# پښتو

## لنډۍ، مصرۍ، ټپې




ویب پاڼه: http://www.razmohammad.com

ایمیل پته: razm.noorzai@gmail.com


Ketabton.com

ترتیب کوونکی: راز محمد نورزی پکتیاوال

کال: ۲۰۱۶م

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډۍ، مصرۍ، ټپې

لنډۍ هغه ولسي شعرونه دي چې شاعر يې معلوم نه وی او د هر حساس پښتون او حساسې پښتنې د احساساتو هنداره باله شي .

## د لنډيو شاعران څوک دي؟

د پښتنو په غرو او رغو کې ، په کليو او ښارو کې ، په شنو درو او لويو دښتو کې ، د ابشار خنگ او د کږدۍ اړخ ته د چوپان په شپيلۍ او د بڼوال په درو کې بلاخره د پښتنو د خاورې په هر گوټ کې له دې اشعارو څخه په يو شان خوند اخيستل کيږي . زاړه يې د ځوانۍ د خاطراتو په ياد وايې ، زلميان او پيغلې يې د خپل زلميتوب شور او مستي پکښې لټوي ، مينانو ته د راز او نياز رويباري کوي ، توريالي ورسره د تورو په ميدان کې گډيږي او مسافر يې په مسافري کې د خپل وطن تنده پرې ماتوي . د اشعرو نه چې څومره ساده، سليس او روان دي هغومره د پرديو ژبو له اغيزې څخه پاک او سپيڅلې دي.

## د لنډيو ځانگړتياوې

د ديوانونو شعرونه که د عربي عروضو تابع دي خو دا شعرونه نه يوازې د عربي عروضو څخه بې نيازه دي بلکه د سيلاب (Syuable) سيستم په اساس ځانته عروض لري ، لومړۍ برخه يې لنډه (۹) سيلابه او دوهمه برخه يې اوږده (۱۳) سيلابه ده . د دې اشعار ويل ځرگند خصوصيت دا دی چې زياتره پکښې د ښځې له خوا نارينه ته خطاب وی او څنگه چې د ښځې احساسات تر نر رقيق ، تاثيرات يې تر نر اغيزمن او اغيز يې تر نر وخوندور دی نو به لنډيو کې هم طبعاً تر نورو اشعارو خوند او اغيزه زياته محسوسه کيږي ، همدا شان هره يو لنډۍ د ملي موسيقی يو داسی نوټ بللی شو چې پر مختلفو طرزو او آهنگو باندې کيدای شی ، لکه : رزم ، بزم ، د سفر ، ناستی ، اتڼ ، غم او د خوښی د حالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راز راز لحنونو سره سمون خوری یعنی هره یوه لنډۍ د ملی موسیقی پر ډول ډول آهنگونو او وزنونو باندې ږغیدای شی ، دا څو لنډۍ چې دلته د پارسی او انګریزی ترجمی سره لوستونکو ته وړاندې کیږی دا د دی راز ملی اشعارو یوه ډیره وړه نمونه ده ، که نه وی دا راز په زرګو نو زرګو نو لنډۍ شته چې تر اوسه را غونډی شوی نه دی یوازی یوه برخه یې د پښتو ټولنی د کتاب په شکل چاپ کړی ده . که دا نمونه د لو ستو نکو خوښه شوه نو بیا به زیار باسو چې دا راز شعرونه یوه بله مجموعه د ترجمی سره مینوالو ته وړاندی کړو . د پښتو ژبې داولسی ادب یو ځانګړی شعری صنف یا ټو لګی دی چې شفاهې ادب هم ورته وایې . لنډۍ د شعر د نورو ډولونو نه یو بیل او بشپړ ډول ځانګړی فورم لری . چې لو مړۍ نیم بیتي یې نهه سیلابه او دوهم نیم بیتی یې (۱۳) سیلابه کیږی چې دا ځاتکړنی په نورو شعری فورمونو کې نه لیدل کیږی . په پښتو اولسی ادب کې د لنډۍ لپاره نور نو مو نه هم شته چې د ښښتون اولس لخوا په دی ټولو نو مو نو پیژ ندل کیږی .لکه: ټپه ، مصره او ټیکی .... چې دی هر نوم ته یو ځانګړی فلسفه موجوده ده چې د بیلګې په ډول یې زه یادونه کوم . لنډۍ ته ځکه لنډۍ وایې چې د سیلا بونو له مخې لنده او دمانا له پلوه دیره اوږده او غښتلی وی او یا داچې چې لو مړۍ نیم بیتی یې ددوهم نیم بیتی نه لنډ وې لکه دا لا ندې لنډۍ :

د لنډۍ ونې نه دی ځار شم
لکه سیسي چې په کمر ولاړه وینه

**مصره**

لنډۍ ته مصره هم وایې او دا ځکه چې په پخوا زما نو کې د توری او ډال جنګونه وه او د هغو جنګونو په مهال د جنګ ښه او پیاوړی توره به په مصر کې جوړ یدله ،نو د مصری توری شهر ت ډیر زیات وه او هغه به ډیره تیره او ځلا نده هم وه ،نو د لنډۍ تا ثیر او ښکلای یې د مصری توری سره تشبیه کړی چې د میوند په جنګ کې د ملا لې د خو لې مصره د یا دولو وړه ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په میوند کې شهید نه شوی
خدایږو لا لیه بې ننګۍ ته دی سا تینه

د ملا لې د خولې دا لنډۍ د پښتنو د بریا لیتوب او د ښکیلاک د ما تې سبب شوه یعنې دی لنډۍ په پښتنو ز لمیانو کې هغه جذ بات او احساسات راو پاروی چې د سر خندنې په رو حیه کې غلیم مات کړ او خپلی سینی یې د انګر یزی ښیکلاک توپونو ته سپر کړی او په غلیم یې هجوم وروړ تر څو یې غلیم پر شا و تا مبا وو .

او بر یې خپل کړ . زما په قبر لاړی تو کړه که یې د ننګ ګو لې په شا خوړلی وینه همدا ډول لنډۍ ته ټپه هم وایې ،او دا هم یو ه د تسمیی وجهه لری خغخ دا چې د لنډۍ تا ثیر د سړی په زړه ټپ جوړه وې . یعنې که توری او ټو پکی ښکاره ټپونه جوړه وې ،نو لنډۍ بیا پټ زخمونه د انسان په اوجود کې جوړولی شي چې یواځی احساس یې کیږی ،خو لیدل کیږی نه لکه دا لا ندې لنډۍ :

باور مې نه شی که به روغ شم
بلا زخمو نه مې په زړه دی مړ به شمه
★★★
د روغیدو تمه مې نه شته
جانان په غشو د بڼو ویشتلی یمه
با نه دی ورو جګ کړه شیر ینې
ما ته دی سم د زړه په سر ټو مبلی د ینه

د لنډۍ بله ځا نګړنه داده چې شاعر یې معلو مه نه وې د هر چا یعنې د هر پښتا نه او پښتنې د خیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زړه خبرى دي . بله داچې وخت او ځايې هم معلوم نه وي ، چې د چا له خوا ،څه وخت ،او په کوم ځاى کې ويل شوى دي ،او نه يې چا ته د تعداد پته لګيږى . د لنډيو کتابونه چاپ شوى ، خو د تعداد په اړه يې څوک څه نه شي ويلى او نه يې کوم ليکوال ته څوک منسو بولى شى ،او نه څوک په ويلو کې انتيظار با سى . حتى کله کله يې خلک يو د بل په وړاندې د مسا بقې په ډول هم وايې په تيره پښتنې پيغلې او زلميان لکه دا ټپه :

د ټپې وار راسره کيږده
ما ته بې واره ټپه خوند نه را کوينه
****
ما سره سمه سيا لى مه کړه
ما د لنډ يو سپارې لو ستلى د ينه

د لنډيو وو يونکې زياتره وخت تور سرې وي . او د لنډيو ډيره بر خه د ښځو له خوا ويل کيږې ،او يل شوې دي . د لنډيو د منځ ته را تګ په باب کو مه خا صه نيټه نه شته او اټکل کيږى چې د زرو کا لو څخه هم بخوا قدامت لرى وځيړونکې په دى عقيده دى چې ښا يې لو مړنې په لاس راغلى لنډۍ او يا په بل عبارت يوه زړه لنډۍ دا وي :

سپوږمې سر وهه را خيژه
يار مې د ګلو لو کې ګو تې ر يبينه (١)

لنډۍ چې د پښتو اولسى ادب او فلکلور اساس تشکلوى . د ژوند په هره بر خه کې د خپل مو ثر يت مظاره کړى وپښتا نه ځوانان او پيغلې يې د مينې ، هجران ، و صل ،غم ، او خو شحالى په حا لتو نو کې وايې ، مشران يې په خپلو خبرو کې د ځينو مسا يلو د تا يد لپاره وايې : ،حتى کله کله ترى د

(c) ketabton.com: The Digital Library



متل په حیث د خپلو خبرو د قوت لپاره کار احستل کیږی ،نو ویلای شو چې په لنډیو کې د انسان ژوند هر اړخ او هره پیښه انځور شوی ده چې دا انځور یدنه په ساده او روانه ژبه چې د اولس ژبه ورته ویل شوي ده نو ځکه ورته اولسی ادب وایې . دلته د ټو لنیز ژوند د څو اړخونو او پیښو یا دونه کوم ،چې په پښتو لنډ یو کې په څو مره ساده ،روان او ظر یف انداز را نغاړل شوی او یو اوږده کسه یې په لنډو الفا ظو کې بیان کړی .که لو مړی د عشق بر خه او دهغه څو حا لته راواخلو ښه به وې .

زه به عاشق سړی پو هیږم

یا یې رنگ زیړ وی یا یې شو نډي وچې وینه

په دی که څو شک نه شته ،چې په عاشقی او مینه کې جذ ببی ،غم ، خو شحالی ، مینت ، پیغور او تهمتو نه وي ،چې دا یو حالت هم د لنډیو نه دی او هر یو یې په خبل وار تعر یف کړی ،هر حالت یې ژبه ور کړی او غږو کې یې دي او په هغه ژبه کې غږولی په کو مه چې ټول پښتون قوم پو هیږی لکه د جدایې به وخت یې عا شق خپلی معشو قې ته د اسی وایې :

جانانه دومره را سره واي

لکه بر ینښنا چې د با رانه سره وینه

**د لنډۍ پیژندنه**

د لنډۍ پیژنې په اړوند په ځینو کتابونو ، لیکونو او خپرونو کې داسې راغلي دي :) لنډې په اولسي ادبیاتو کز هغه ادبیات دي چې د اولس بې نومه او بې نښانه شاعر پکې پدې بریالی شوی چې د بشر د ژوند تر ټولو عالي شیبې په دوو نا متوازنو بیتونو کې په ایجاز بیان او تصویر کړی دی . (۱) (استاد حبیب الله رفیع لیکی) : لنډۍ یو هغه دوه مسره ایز نظم دی چې لومړۍ او دوهمه مسره یې نه په قافیه کې سره یو شی او نه په وزن کې سره رابري وي . لنډۍ هغه موزون ، غیر متعارف ، مستزاد ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمي مقفى ، غير مصرع بيت دى چې لومړۍ برخه يې نهه (۹) څپې او دويمه برخه يې ديارلس ((۱۳))څپې وې د پښتنو په مختلفو سيمو کې لنډۍ په مختلفو نومونو ياندې نومول شوي دي البته چې په هر محيط کې به يې د بيلې بيلې وجهې سبب شوى وي ، او هر يو نوم ايښودونکي به د يو خاص صفت او مقصد په لحاظ نوم پرى ايښى وي . نو لدې کبله د لنډۍ په نومونو کې اختلاف معلوميږي . څو نومونه چې په بيلو بيلو محيطونو کې وربا ند ايښودل شوي دي په لاندې ډول دي : لنډۍ د کندهار او پکتيا پښتانه يې لنډۍ بولي چې دا اصطلاع د کثرت په توگه په دوي کې موجوده ده او هم د هري سيمې باسواده خلک يې پيژني .

**بل تعريف**

لنډه د مفرد مؤنث کلمه ده ، لنډۍ د لنډه بڼه ده ، د لنډۍ لومړنۍ برخه لنډه او دويمه برخه يې اوږده ده ، له دې کبله ورته لنډۍ وايي. يا دا چې په دى ډول نظم کې يو ډول تاثيرات پراته دی ، چې په اوريدونکی په محضی اوريدو سره يو داسې ډول اغيزه کوي چې په خوله يې تعريف نه کيږی او اکثر پښتانه يې په محض اوريدو سره په ژړا کيږی او په زړه کې يې يو هيجان او سوز پيدا شي ، نو ځکه يې د هغې لنډۍ نوم چې د مار په معنى ده په دې نظم باندې ايښى ده. راوړتي : )) د پښتو مشهور اديب چې په قام انگريز ؤ(( د پښتو ژبې او دب ته يې ډير خدمت کړی دی ، د دې پورته قول يې تاييد کړی دی او لنډۍ په باب کې ليکی : ((د پښتو ژبې يو ډول اشعار دي ، چې د ولاړې موسيقي په ذريعه ويلی کيږي ، د زيات جوش او حرارت نه ډک دی ، او ماته د دې په ذريعه خپل وطني او ملي سرودونه را په ياديږي ، چې .. ۱۰))

**د لنډيو ادبي او معنوي ويش**

لنډۍ د پښتو په فولکلوري ادب کې يو ځانله فورم دی چې د شکل له پلوه ډيري زړې دي ، د موضوع په لحاظ هم دومره متنوعي دی چې د پښتني ژوند ټولي خواوي پکې په واقعي او طبيعي بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځور شوي دي او سړی د پښتنو د اجتماعي ژوند دومره باریک موضوعات پکې پیدا کولای شي چې په نور سندرو کې بیا په دي کم و کیف نه دي بیان شوي . (۱)

## د لنډیو معنوی او حماسي انځور

**فخر او حماسه**

په خپل دین ، قوم ، ژبه ، نیکونو میړاني ، ز ړورتیا او نورو اوچتو صفتونو ویاړ کولو ته فخر ویاړنه وایی . حماسي هغه شعرونو ته ویل کیږی چې موضوع یې ، جنګ ،مړانه ، ښندنه ز ړورتیا ، ننګ غیرت ، توره او ویاړنه وي . لکه لاندې لنډیو :

علم دریاب کوشش کشتی دي
په کشتی کینه په دریاب و ګرځه میینه
****
چیرته چې علم حاصلیږي
هلته به خاوری کړمه غوښي خپل هډونه
****
مورې لنډی توره مې راکړه
پر دین غزا ده زه خپل ځان شهیدومه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له میونده روغ راستون شوي
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتیـــــــنه )۱(

**ګودر او لنډۍ**

ګودر د پښتنو د کلتور د کتاب هغه رنګینه پاڼه ده، چې له نوم څخه یې د سړي زړه ته دیدنونه، مینه او ښکلا خپل ځان ورښکاره کوي، او د ښایستونو د یوې ټولګې په شان ورته ځان ښکاره کوي. څرنګه چې دنـــــــوم څخه معلومیږي چې ګودردپښتوژبې سوچه کلمه ده اودپښتنوټولوسیموکې دګودرکلمه عامه ده . کله چې موږ دګودرکلمه په خوله اخلو نوحتما زموږذهن ته دپېغلې ، منګي او ماذدیګري کلمې راځي .داهغه کلمــــــــــــې دي چې دپېغلو،ځوانانو،شاعرانو، سندرغاړوله خواپه داسې الفاظواو کلمـــــــوکې ستایــــــــــــل شوي چې انسان داوریدولو توان په ځان کې نه ویني چې په اوریدلویې دځوانی جزبه او د مینې ولوله راپاروي . دپښتنو په سیمه کې دګودرغاړه په مازدیګري کې د پېغلو په تودواکاړو ګرمه وي ځکه چې دا داسې ځای دی چې خپلې همزولې په کې جمع کیږي . ګودر چېرې چې ښکلې او مستې پیغلې د اوبو راوړلو په بهانه خپلو همزولو سره د زړه خواله کوي، خوښي کوي، د خپلو مینو دیدنونه کوي. ګودر د ویالې او چینې سره هغه ځای ته ویل کیږي، چې په هغه ځای کې د منګي خوله په اسانۍ سره د اوبو په واسطه ډکیږي. او د هغه سره نږدې کورونه د خپلو ورځنیو ابو د پوره کولو کار اخیستل کیږي، چې ګودر ته معمـــــــولاً انجونې ځي او ډېرې په خوښۍ د ګودر څخه د اوبو راوړلو ته خوښیږي. څرنګه چې زموږ په وطن او په ځانګړې ډول د پښتنو په سیمو کې د ښځو په تګ راتګ، مېلو او مستیو ته اجازه نه شته دی او نه هم په کې بې له ګودر څخه کوم بل ځای شته دی، نو پښتنې انجونې ګودر ځانته په دنیایي جنت کې شمېرې، ځکه چې هلته د خپلو همزولو انجونو سره د زړه د نړۍ رازونه شریکوي او د خپلو یارانو سره د دیدن څخه خوند اخلي، څوک په کې نوی د یارانې تار غځوي او څوک په کې خپلو زړو یارانو ته ټینګښت تارونه تړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته یوه پښتنه انجلۍ د خپل یار د دیدن لپاره په ځان تکلیف مني او کوز گودر ته اوبو پسې ځي، چې هغه د پښتنو په قول په یوه تېر دوه ښکاره کوي، چې وايي:

اوبه د هر گودر خوږې دي
جانانه ستا دپاره کوز گودر ته ځمه

دلته د گودر په بهانه د یار د دیدن کولو سربېره د پښتنې انجلۍ د مینې سپېڅلتوب هم ځان ښکاره کوي، چې د خپلې مینې لپاره په ځان تکلیف گالي او د یار دیدن کوي. په گودر کې نه یوازې د انجونو خنداگانې او د بنگړو شرنگهار شتون لري، بلکې هلته د گودر څخه یوه څه لرې په هغه سیمه کې چې گودر ورته ښه مالومیږي، ډېر زلمیان هم لیدل کیږي، چې ډېرو انجونو په منځ کې د یوې انجلۍ د سالو خبره داسې په لنډۍ کې رانغاړي:

پر گودر سور سالو ښکاره شو
ما وې دې تورو اوبو اور واخیست مینه

دلته د سالو یا ټکري سور والی او هغه هم د یوې داسې انجلۍ په سر چې په مستۍ ورځینې هخوا دېخوا سر اخلي او دا پرې د خپل مین زړه زخمي کوي. او یا هم کومو زلمیانو، چې د گودر د غاړې د مستو انجونو کتار او ټولگه لیدلې وي، هغه بیا ځان د گودر د غاړې په شان غواړي، چې د انجونو د سرتاج شي او یا هم انجونې یې په خپل لاس راوشکوي او د زړه په سر یې کیږدي. لکه چې وايي:

خاونده ما د گودر گل کړې
چې جینکۍ مې شوکوي سر کې مې ږدینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د هغه ګل یادونه شوې، کوم چې د ګودر په غاړه وي او انجونې هغه راشکوي او په خپلو وېښتانو کې یې د مستۍ د نښې او د وېښتانو د ښایست لپاره ټوکوي، چې د خپل مین زړه پرې ټکور کړي. یا هم ځینې میینان ګودر ته د ټولو انجونو او یا هم د جوړه انجونو له تګ څخه سرټکوي او د خپلې مینې سره د بلې انجلۍ راتګ ورته ټکه ښکاري، لکه چې وایي:

پـه ګودر څـه ټـکه لوېدلې
چې کشره خور یې بدرګه ورسره ځینه

د پښتنو د کلتور د کتاب د پاڼو څخه دا جوتیږي، چې پښتانه انجونې یوازې حتا ګودر د اوبو پسې هم نه لېږي، یا یې کشره خور او یا هم کشر ورور ورسره لیږي، خو دلته دا کشره خور دې خوار عاشق ته د ټکې په څېر راغلې، چې دی یې د خپلې مینې سره د همرازۍ څخه بې برخې کړی دی. که څه هم د مور څخه خوره او نیږدې څه نشته خو کله چې یوه نجلۍ په کورکې د موراو پلار له خوا ورته رد او بد وویل شي هغه خپل ډک زړه ګودرته وړي اودګودرپه غاړه دخپل زړه بړاس اوباسي . کله چې دګودرغاړه په شنواوسرورنګونوپټه وي نوځوانان یې بیاپه شعرونواولنډویو کې انځوروي :

پرګودرسورسالوښکاره شو
ماوې دې توروواوبو اورواخیست مینه

کله چې په ګودردنجونوسره ، سپین او شنه ټیکري راغوندشي چې ددوي دټیکریودرنګونوتیزوالی دومره تیز وي چې داوبورنګ هم ځان سره اړوي .چې دلته دلنډۍ ویونکي هم دې ټکي ته اشاره کوي او وایي چې کله سور سالو په ګودر راښکاره شي دغه سور رنګ دومره تیزوي لکه داور تاو چې سړی سیزي که څه هم اوبه داور ضد وي خو بیاهم هغه تاثیرات چې په سور سالو کې وي اوبه او اور ورته هیڅ دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يار مې ټو پک زه يې مر مې يمه
په تورو غروکې يې ويشتم ورکه يې کړمه
****
ورشه د يار خبر دی واخله
چې بی د يدنه دی سا ته ليو نی شونه
****
ما ز ديگر چير ته وی چې نه وې
خوری وری زلفی په بام ولاړه ومه
په لنډيو کې انځورونه او تشبيهات

په ښتو لنډيو کې انځوړ يز کليمات ،تشبيهات او هم وزنه لغتونه په ډير هنری وروان ، ساده دول راوړل شوی دی . د لنډۍ مو جود فورم ورته يو خاص خوند او ښکلا ور ښلی ده لکه دا لنډۍ :

زلفی دی بی شماله ښوري
لکه استاد شاگرد ته لښته خو ځو ينه

دلته د زلفو لړ داستاد د لښتی سره تشبيه شوی دي که څه هم د زلفو نرمي او ظرافت بايد د يوي لښتی سره تشبيی نه شی ، خو د لښتی تاندوالی او د گوزر کيفت چې د لښتی درد په ښکاره ډول او د زلفو درد پټ احساس ددی تشبيه مانا ته ډير قوت ور ښنی او که يو بل ماناوې تړاو ته يې ځير شو . که د استاد د لښتی خو ځول شاگرد دی ته اړ با سی چې د يو مضمون لو ست ښه زده کړی . خو دا هم بی ځايه نه ده ،چې د يار زلفي هم سړی ته د مينې درس ورکوی . هغه د خوشحال بابا خبره چې وايې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدرګه که محبت راسره نه وایې
یک تنها به به خو نخوارو لارو تلل څوک

که په لنډیو هر څومره وغږیږو ،نو د بس ټکی به پیدا نه کړو ،ځکه لنډۍ زمو نږ د اولس هغه قیمتی او ارز ښتنا که پا نګه ده خلا صیدل یې نا شوني ده او د یادولو وړ خبره خو دا ده ، چې دغه پا نګه خداي )ج( یواځی په پښتو پیرزو کړ یده . نوری ژبي له دی نعمته بې بر خی دی او کمال یې په دی کې دی چې دا داولس خبري دی واو داولس د زړه خبری دی او داولس دزړه نه راوتلی دي ،ځکه نو داسی څوک به نه وې چې لنډۍ یې زده نه وې یایې نه پیژني ،ځکه په لنډیو کې زیاتره د ټو لنې حالات ، ټو لنیز ژوند ، او د چا پیریال په اړه مفا هیم رانغاړل کیږی ،حتی کلتوري مسایل په ډیره ساده ژبه انځور شوی دي لکه دا لا ندې لنډۍ :

که مور او پلار دی خداي رضا کړل
د ماما ګانو به دي زنې ونیسمه

زمو نږ په پښتنه ټولنه کې دا دود دی چې د جنې په غو ښتنه کې لومړی حق د پلار او مور دی . او دهغوی د رضا حاصلول یوه حتمې خبره ده ، خو کله کله یا په اکثره ځا یونو کې ماماګان هم ددي صلا حیت لری چې نجلۍ دواده او یا په عامه اصطلاح دبر خلیک په ټا کلو کې رول ولری . چې په پورته لنډۍ کښ مټ مفهوم په لنډو الفا ظو کې رانغاړل شوی دی او یا دا لنډۍ :

په ما دی ټول کلی خبر کړ
په تا دې یو دادا خبر دی زړه دی چو ینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم د کليمو د رواجونو او دودونو مسله ده . چې په پښتنو کې یا دونې پتې وي .او که دغه راز په ډاگه شي ، نو بد عواقب به ولری . خو د مينې جذبات بیا کله کله انسان ته دومره جرعت ورکړي . چې انسان د خپلی ټولنې او ټولنیز قانون نه سر غړاویې ته مجبوروی . لکه دا لنډۍ :

په توراور بل مې جنگ جوړ یږی
زما بې غوره یاره څه چې تر ینه څونه

چې البته داحالت د ینې استعراق یا جنون مرحله ده چې سړی خپل استو گنځی پر یږدی . او د ناخوالو له لاسه د ټو لنې نه تجد یدیږی . خو په هر صورت ملامتیا ددې مي لو مو انسانانو هم نه ده . ځکه هغه دچا خبره ده . )دمينې نازولی حالت ته جنون وايې ( نو چې د سړی مینه دیره نازولی شي ، نو هغه به ولی نه جنون کیږی . دوی چې جنون شي ، نو د دونیا ټول خواږه او د معشیت ژوند شاکړی او بلاخره د جنون په سمندر لاهو شي .او خپل هر څه د خپلی مینې نه قربان کړی . هغه د اختر و صیب خبره چې

سرو مال به درته دوه په میدان کیږدم
کومه ورځ چې ستا د مینې جواری شوه

نو دغسی پښتانه مینان هم ځان یو له بله قربانوی . او دا خو ښکاره ده چې ښبتانه په قربانې او ځان تیرونه کې نوم لری لکه دا لاند ې لنډۍ :

د غرغری میدان ته راشه
سبا مې ستا په تهمت دار ته خیژوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو معشو قه بیا د خپل غاشق پدی حال فخر کوی . او وياړی ،چې دا قر باني يواځې او يواځې ددي مينې ته ورکوی . او خپل سپيځلی روح د يوی سپيڅلی مينې قر بانوی . او وايې :

خاونده ټوله مې ترې زار کړې
زما په سر يې غرغري منلی دينه

په بای کې دومره وايم چې لنډيو ته زه دومره عقيده لرم چې که په پښتو کې هيڅ شعر نه وايې او يواځې همدا لنډۍ وی ،نو د پښتو ادب لپاره به کا فی وايې . او په اخر کې دادی کوم چې پښتا نه دی ژوندې وې او پښتون دی اباد وې . او خدای )ج( به پری د ابدی عمر پيرزو وکړی

عمر دی ډير شه خپله ياره
زما د زړه ستنی په تا ولاړې د ينه
د گودر اومنگي انځور په لنډيو کې
اوبه دهر گودر خو ړی دي
جانانه ستا لپاره کوز گودر ته ځمه
****
اوښکي مې سيند غوندې بهيږی
بيا به د سيند د غاړی نهکوم سيلونه
****
بيلتونه چيرته چې ځی لاړ شه
گودر ته مه ځه چې بې پاتی شينه
****
پرگودر سور سالو ښکاره شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماوې دی تورو اوبو اورواخیسته مینه

****

پلاریې دبر کلی ملک دی
لور یې د کوز کلی منګی راړکو ینه

****

په ګودر څه ټکه لو یدلی
چې کشره خور یې بدرګه ورسره ځینه

****

خا ونده دا ګناه مې معاف کړی
بیا به دخوړ په عاړه نه کرم ګلونه

****

خاونده ما دګودر ګل کړی
چې جنګې مې شوکوی سرکې مې ږد ینه

****

خوله به د خدای په رضا درکړم
منګی مې ولی ښوروی لنده دې کړمه

****

د زلفو تار مې اوبو دروړو
په غم شر یکه مینه نیسه ګودرونه

****

د کشمالو منجیله وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خو شبوې دې د منګې د بیخه ځینه

****

دګودر غاړه ورته نیسه

د نجلۍ خوې د مرغاوې دې رابه شینه

****

دګودر هر بو ټي دارو دی

چې پرې لګیږي د نجو نکو پلونه

****

د منګو ټو کتار یې جوړ کړو

لنډۍ بازار یې په ګودر ولګاونه

****

که دې زما دیدن یاد یږي

د ګودر غاړه اجاره واخله مینه

****

که د یدن کړې ګودر ته راشه

زه به منګې په لپو ورو،ورو ډکومه

****

ګل مې د لاسه اوبو دروړ ه

په غم شریکه لا لیه نیسه ګودرونه

****

ګودر ته ځم راپسی راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه

****

ګودر په سر مې قبر جوړ کړه

چې مات منګی جنکۍ زما په قبر ږد ینه

****

ما دګودر په غاړه ښخ کړی

چې جنکۍ مې مات بنګړی په قبر ږد ینه

****

منګي یې ټول په ډنډ غو په کړل

د شیطا نۍ منګی په لپو ډکو ینه

****

یو ګوټ اوبه منګی نه راکړه

د وصال ترږی یم اوبه بهانه کومه

مات کودړی

دګودر په غاړه پروت و مات کودړی

و یلی زه وم روغ منګی کلال جوړ کړی

****

د لته لو بو کې زه مات یوه ځلمی کړم

یوی پیغلی په اوږو ومه راوړی

****

د جهان هره زره کې عشق عیان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مات کودړی سره هم د عشق داستان دی

****

ډیر مین په دی گودر دې یو ځای شوی
ډیر منگي دلته مات شوی لند بیان دی (۱)
په لنډۍ یو کې دگودر انعکاس

اوبه د کوز گودر خوږی دی
لیلا د یار لپاره بر گودر ته ځینه

****

اوبه دکوز گودر خوږی دی
زه د مین د پاره بر گودر ته ځمه

****

او به د کوز گودر خوږی دی
د لیو نی د خو بی کنگل پکی راځینه

****

بدن دریاب زړه مې گودر دی
د غم ویلی پکې رگونه تللی دینه

****

بیا به منگی ته گو تی نه کړم
مور د گودر د تلو نه ما منعه کوینه

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاس په گودر د پيغلو جنک شو
د سور سالو مير منى ما تى گډوينه
****
پاس په گودر ولاړی گله
نصيب د چا يې او به زه در خيژومه
****
پاس په هوا راشه جانانه
د گودر لا ري راښيزو نيولى دينه
****
پټ د گودر په غاړه کينه
چې ياره پټ په پټ وکړو ديدنونه
****
پرگودر سپينه سينه اوړی
په لاره تير يدم ودی ويشتمه
****
پر گودر گنې ونی کيږده
چې شا ليلا منگی په سوری ډکو ينه
****
پر گودر نښه راته کيږده
د ما زد يگر اوبو له ځمه وا به يې خلمه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر گودر څه بلا لگېږي
چې کشر ورو يې بدرگه ورسره ځينه
****
په گودر سور سالو ښکاره شو
چاوې سالو دی وچاوې اور ولگيده
****
په لوی گودر دی ځنې پری ولی
په نری بادی يې وچوی مين دی کړمه
****
پيغله گودر ته روانيږي
زړه يې منجله کړو پری منگی راوړی مينه
****
تاسی دی بر گودر ته گوری
د بيغلو جنگدی منگو تې گذاره وينه
****
ته د گودر غاړی ته راشه
ما په منگی کې پراتې راوړی دينه
****
ته ماز ديگر گودر ته راشه
په گودر کيږی په اسانه ديدنونه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ماز دیگر گودر ته راشه
زه به منگی په لپو ورو ورو ډکو مه

****

جانانه ستا د زړه لپاره
زه په غرمه د گودر غاړې له درځمه

****

خاونده بیادی مازد یگر کړ
پهگودر جوړشو دمنگیو کتارونه

****

خلکه گودرگوري گډیږی
زه بې گودره گډیدمه لا هو شومه

****

داده گودر غاړه راواخله
لکه زخمی هیلۍ په ډبکې ناسته یمه

****

د اسری منگولې نری غاړه
گودر ته لاړه دچا ژوند خرابوینه

****

دا سرې منگولۍ نری غاړه
گودر ته لاړه برگ منگی ترخکې وړینه

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسري منګولی نری غاړه
لکه کو تره په مکیز ګودر ته ځینه

****

د جلا لا ګودره وران شی
په جنکودی سا لنډی ولګاو نه

****

ددی ګودر غاړی ته ګوره
نری لګی دی پیغلی زړونه ودیتوینه

****

دګودر خواکې وني کیږده
چې شا لیلا منګی په سیوری ږکو ینه

****

دګودر زر اجازت راکړه
ما ته کو څه کې جنکی ولاړی دینه

****

دګودر غاړه به ښا یسته کړی
ورله روان شول د بلبلو کاروانونه

****

دګودر غاړه پری ښایسته ده
څا نګه دی خدای شامدام روغه لر ینه

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګودر غاړه ورته نیسه
دجنلۍ خوی دمر غاوی دی رابه شینه
****
دګودر غاړه ورته نیسه
لیلا دجنو میره ده مخکې دربه شینه
****
دګودر غاړه ورته نیسم
زما جانان پردی لار تللی رابه شینه
****
دګودر غاړهیې ناغه کړه
زلمو په غاړهکړه دصبر تاویزونه
****
دګودر غاړه دي اغزي کړه
په سترګو رِوند شی بخملی پښي لرمه
****
دګودر هر بو تی داروده
چې لګیدلی پری د پیغلو پلونه
****
دګودر هر بوټی دارودی
جونی پری هره ورځلاسونه لګو ینه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



دگودر هر بوټی تازه ږې
هرمزد یګر پری جو نې سترګې لګو ینه
****
دګودر هر مازد یګری ښه وې
چې جونې ټولی ماز د یګر سیل له راځینه
****
دمازد یګر اوبوله مه ځه
په ګودر زانګی دکوډګرو تاویزونه
****
د مازد یګر ګودر ته راشه
ما په منګی کې پراټې راوړی د ینه
****
د مازد یګر ګودر له مه ځه
پیغلی ابو پر ځای و ینې دکو ینه
****
د مازد یګر ګودر له راشه
زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه
****
د ماز د یګر ګودره وران شی
په خندا درشم په ژړا درنه راځمه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يدن دی سين کړه را لا هو کړه
زه په غاړه دگودر ولاړه يمه
****
زلفی يې بيبا پر مخ خوری کړی
د ماز د يگر گودر له څی ځان سنگارو ينه
****
سترگې دې ډکې تو مانچې دې
چې د گودره را ختم ودی ويشتمه
****
سترگی هوسۍ صراحی غاړه
بيا دگودر په لاره مسته ياره له ځمه
****
شاه دگودره روانيږه
زما نږ يږی د زړگی پا خه برجونه
****
شاه دگودره روانيږه
لکه د بڼ مر غۍ وږه شنه يې خالونه
****
شاه دگودر له لوری راغله
لکه پا چا ورته پيري ولاړی دينه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



شال يې په سر اوړی په غاړه
ګودر ته لاړه عاشقان ر نځورو ينه

****

شو مازد يګر ځان يې سنبال کړو
خپلو همزلو سره کوز ګودر له ځينه

****

شو ماز د يګر ګودر له لاړه
لکه هو سئ په لاره اخلئ قد مو نه

****

شو ماز د يګر ګودر له لاړه
په اردلئ کې سيهلئ ورسره ځينه

****

که ته ر يښتيا پر ما مين يې
د ګودر غاړه اجاره واخله مينه

****

ګودر ته ځم را پسې را شه
يوه شيبه به دی په شه زړه وو ينمه

****

ګور له ځم را پسی راشه
منګي مې دوه دي نری ملا مې ما تو ينه

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګودر له څمه را پسې را شه
ما په منګي کې پراتې را وړی د ینه
****
ګودر ته دواړه خو یندي راغلی
یوه یې ویشتل کا بله یې غشي ټولو ینه
****
ګودرته څم راپسی راشه
زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه
****
ګودر ته څم راپسی راشه
وخت مازد یګردی چې پری وکړو د یدنونه
****
ګودر له غبرګې خو یندی راغلی
ګو له ماری د خمارو ستر ګو کو ینه
****
ګودر له څمه خو شحا لیرم
چې مې جانان کر لې لاره کې سره ګلونه
****
ګودر ته ځی په مخه راغلې
ګیبی ګیبی پرتو ګ دی لاره نه راکو ینه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګودر کې سرې لمبې شوې پورته
د چا د زړه په دنیا اور ولګید نه
****
ګودر شو ګرم مازد یګر دی
لیلا همزولو سره قینج مکیز کو ینه
****
ګودر له ځم چې اوبه راوړم
په سرو منګلو به یې جانان له ورکومه
****
ګودر له ځم چې مانګی مات کړم
سپو ړمی زړه شوه اوس تیاره کې یاره ځمه
****
ګودرته څی ناوخته کیږی
د خیال کاته کوی په اور یې ستی کړ مه
****
ګودر له ځی او ښو ته ګوري
پاچاهی لارکې د خیال مه ږده قد مونه
****
ګودر په سر مې قبر جوړ کړی
چې مات منګی پیغلی زما په قبر وینه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



گودرکې هره ورځ اختر وې
منگې په سر ورله راځي جو نی سیلونه
****
گودر د غدونو څه کم نه دی
پکې پښیږی شنی پاخی کټه بازونه
****
گودر دی عمر له اباد وې
مازد یگري پکې وی اخترونه
****
گودربادشا منگی وزیر دی
وزیر همیشه د خپل یار سلام کو ینه
****
گودره ټول درته لو گی شم
په سور سالو کې لیلا ستا خواله را ځینه
****
گودرکې هره ورځ اختر وې
رنگ رنگ پکې وی د خو بانو محلسونه
****
گودرته راغلی برابره
یا خو لگی راکړه یا منگی در ماتو مه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګودر دی عمر له ودان وې
په دی بهانه د جانان وکړم د یدنونه
****
ګودره بخت دی غلبه دی
د پیغلو جنو سیل کوی حیران دی کړمه
****
ما په ګودر د جنو ښخ کړی
ګو ندې ملا له پر ما کیږدی قد مو نه
****
ما زد یګر تل لری خاونده
چې ماز د یګر په ګودر وشی د یدنونه
****
مازدیګر پیغلی ښی اغلی
منګې په ولو دګودر غاړی له ځینه
****
ما سره سم ګودر له لاړ شه
منګې مې دوه دی نری ملا مې ما تو ینه
****
منګی به تخرګ ګودر له ځمه
دغه یو ځای دی چې بری کیږی د یدنونه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



منګي کې موری اوبه نه شتهخ
زه د اوبو لپاره کوز ګودر له ځمه

****

ولی به زه ور پسی نه مر م
اوړی په غاړه ما زد یګر ګودر له ځینه

****

وخت د ځوانۍ مې نیمه خوا شو
یار بې وفا شو ارمانې به ګودر له ځمه

****

هغه ساعت به کله راشی
چې د اشنا سره به بر ګودر له ځمه

****

هر مازد یګردی لوی اختر دی
ګودره ! ځکه دی صفت هر ځای کو مه

****

جنی د پلاره دی ویر یږم
ګودر ته راشه کور ته نه درسره ځمه

****

چې ماز د یګر شی زړه مې ښه شی
په ګودر حوړ شی د منګیو کتارونه

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مازد یگر شی عاشقان ژاړي
چته له خیاله منگی وړی په گودرونه

****

چې یوړم یوړم اوبو یوړم
چې بې گودره ګډ یدم اوبو به وړمه

## د لنډیو په هکله د لیکوالو نظرونه

په پښتو کې لنډۍ څه ته وايي

استاد حبیب الله رفیع

د پښتو لنډیو ژوند څلورنیمو زرو کلونو ته رسیږي

هارون حکیمي

لنډۍ، مصرۍ ، ټپې

په لنډیو کې خندونکې توکي

محمود نظري

لنډۍ د گلونو په سمندر کې

محمد حامد حلیمي

د پښتو لنډیو په اړه یو څو خبرې

ولایت خان ځدراڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په پښتو کې لنډۍ څه ته وايي؟

د آلمان ږغ راډيو سره د استاد حبيب الله رفيع دمرکې متن

د لنډيې چينې د پښتو په غرونو او رغونو، کليو او باندو، باغونو او بڼونو ټولو کې راوخوټکېدې او د دوی د ژوند ټول اړخونه يې په خپلو خوږو لفظونو کې انځور کړل.

په لويو غرو د خدای نظر وي
په سر يې واورې په لمن يې زېړ ګلونه

سندرو او افسانو زموږ د لرغوني هيواد د ادبي او کلتوري ژوند خښته کېښوده او د ليك تر پيدايښت وړاندې يې زموږ د فکري يون کرښې وټاکلې او پښتو اولسي سندرو هم د همدې ويدي او اوستايي سندرو تر څنګ سترګې پرانيستې.

د پښتو اولسي ادب په ښيرازه ګلبڼ کې د لنډۍ په نامه يو داسې ګلبوټی هم رازرغون شو چې هره پاڼه يې بېل رنګ او د هرې څانګې خوځښت يې بېل آهنګ درلود.

لنډۍ په ټوله پښتونخوا کې خورې او هرې پښتنې او پښتون ته ورسېدې، هر چا چې وويلې د ټولو مال شوې او د ټولو د حال او چاپېريال څرګندويې او ښکارندويې يې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډۍ د پښتني ټولنې ټول رازونه په خپله غېږه کې خوندي کړل او د پښتو د ژوند ښې او بدې، خوږې او ترخې ټولې پېښې او خاطرې يې په خپله لمن کې راونغښتلې، لنډيو هم د پښتنو د ودونو او ښاديو دوراګانو ملتيا وکړه او هم يې د دوی د جنازو او تابوتونو ويرونه وکړل.

د لنډيې چينې د پښتو په غرونو او رغونو، کليو او بانډو، باغونو او بڼونو ټولو کې راوخوټکېدې او د دوی د ژوند ټول اړخونه يې په خپلو خوږو لفظونو کې انځور کړل.

لنډۍ سيلابي او څپه ييز جوړښت لري او لکه له نامه څخه يې چې ښکاري يو لنډ بيت دی چې دوه مسرۍ په کې دي، يوه لنډه )۹( سېلابي او بله اوږده ديارلس سيلابي، ددې ۲۲ سېلابونو په غېږه کې د لوی نه لوی مطلب په ډېر اعجاز او ايجاز خوندي کېږي او ادبي کېږي.

د ژوند هره موضوع د لنډۍ موضوع ده او د پښتني ژوند هره برخه د لنډۍ دګلونو خوشبويه عطر جوړولای شي. د مينې نغمې او د حالاتو تغمې دواړه د لنډۍ په پستو اننګو کې ښکاري او دا کمال په کې شته چې په بشپړفصاحت او بلاغت يې ادا کړي.

د نمونې په توګه پښتونولي يو قانون دی، په دې قانون کې که دښمن هم د چا په کور کې پناه واخلي، مضمون دی، د همدې اصل له مخې مين بېلتون ته هرکلی کوي او ډاډ ورکوي:

بېلتونه راشه سترې مه شې
زړه مي پښتون دی مېلمه نه خپه کوينه

ګودر د پښتني ټولنې يوه ټولنيزه مؤسسه ده، په هرکلي او تپه کې يو ګودر موجود وي، د کلي پېغلې نجونې ګودر ته راځي، اوبه هم ځنې وړي، مرکې او مجلسونه هم سره کوي او کله ، کله د دوو مينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیدن هم په گودر یا د گودر په لاره کې کېږي، نجونې گودر ته په ښو او نظرراښکونکو جامو کې ځي او د سرو سالوگانو سیالۍ کېږي، یوه لنډۍ دا منظر داسې انځوروي:

په گودر سور سالو ښکاره شو
ماوېل په تورو اوبو اور ولگېدنه

مینه او وفا د پښتني دنیا یو زرین او متین اصل دی چې ژمنه یې وکړه بیا ماتېدی نه شي او چې قول یې وکړ بیا بدلېدی نه شي، د همدې اصل له مخې مین مینې ته د مینې په دنیا کې د وفا ډاډ په دې الفاظو ورکوي:

د زلفو تار نښاني راکړه
که په قیامت یې رانه غواړې دربې کړمه

غربت او بېوزلي د پښتني ټولنې یوه سپوره برخه ده خو د کورنۍ مینه او صمیمیت، لورینه او یو پر بل پېرزوینه هم یو زرین اصل دی، یوه پښتنه مېرمن له خپل مېړه سره د مینې او لورینې ژوند لري یوه ورځ داسې راځي چې په کور کې د خوړو څه نشته، ښځتن مجبورېږي ورته له کوره راځي چې په کور کې د خوړو څه نشته، ښځتن مجبورېږي وړی له کوره وزي او په خوارۍ مزدورۍ پسې ځي، کله چې مېرمن د خوړلو څه مومي او د سترخوان ته کښېني نو وږی تللی ښځتن یې وریادېږي، مړۍ یې په ستوني کې نښلي او د صمیمیت او لورینې داسې ازموینه ترسره کوي:

اشنا مې وږی رانه تللی
چې دسترخوان لره ورځم ژړا راځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتني ټولنه کې د مینې کولو لارې ډېرې اغزنې دي او ډېرې له ستونزو ډکې، که د غلا مینه رسوا شي نو بیا د مرګ استازی رارسېږي او د مینې انتقام اخلي، مین په همداسې اغزنو حالاتو کې مینې ته زړه ښه کوي او له مړینې وېره نه کوي خو له مینې نه هم د ثبات او وفا دارۍ غوښتنه کوي:

سبا مې ستا په تومت وژني
ځای د راستۍ دی چې منکر نه شې مینه

یا هم

سبا مې ستا په تومت وژني
غولی جارو کړه چې په شرق مې وینې ځینه

پښتني دنیا د ښو او غوره اصولو ترڅنګ ځینې ناوړې او ناروا وې هم لري له دې ځخه یو هم د مېړونو له خوا د مېرمنو وهل هم دي، مېرمن مقابله نه شي کولی، خو لنډۍ نه دیوه ملیح او مظلومانه احتجاج په توګه کار اخلي او خپل څښتن د لنډۍ په خوږه ژبه خپلې ناروا ته داسې متوجه کوي:

برخان د ګلو لښته ناخلې
پر ما دې تېر کړل د کوتکو ګوزارونه

په پښتني ټولنه کې ودونه د اولادونو د پیداکېدلو او د وګړو د ډېرېدلو لپاره کېږي او هره مېرمن له ودوزن سره سم هیله لري چې ماشوم ولري او په کور کې یې زانګو وزنګوي، یوه مېرمن چې ډېر وخت د اولاد په انتظار ده خو په کور کې یې د ماشوم د ژړاغږ نه راپورته کېږي نو خپل خاوند ته د لنډۍ په خوږه او پسته ژبه په طنزیه لهجه داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانانه ستا مزګۍ نشته
زما همځولي زانګو ګاني زنګوينه

لنډۍ يو سرتړلی زنځير دی او يوه موضوع په کې بشپړېږي خو کله کله د سوال او ځواب په بڼه يوه لنډۍ له بلې سره نښلي او د يوه خواره ډيالوګ په توګه دوام کوي:

ننۍ ناسته په همداسې يوه خواره سوال او ځواب سرته رسوو چې د مينې رازونياز په کې شوی او د ټولنې بنديزونو ته په کې ټکان ورکړل شوی دی:

په سپينه خوله مې دې پرار وکړ
زه به بخيلې مور ته څه ځواب کومه
مور ته دې داسې ځواب وايه
زه له منګي سره ګودر ته ولوېدمه

مينه ځواب منطقي نه ګڼي :

مور به مې داسې راته وايي
منګی دې روغ په خوله دې راوړل پرهارونه

مين منطقي ځواب جوړوي او وايي :

بيا د مورکۍ ځواب دې دا دی
منګی په خټه زه په ګټه ولوېدمه

ځواب چې منطقي کېږي دا ورته وايي:

چې د مورکۍ ځواب دې جوړ کړ
پر دې ملاله خوله مې کښېکاږه غاښونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو لنډیو ژوند ځلورنیمو زرو کلونو ته رسیږي

هارون حکیمي

پښتو هغه منظوم شعر دی چې تر اوسه یې په بله ژبه کې ساری نه دی لیدل شوی، پښتو لنډۍ یو ځانګړی جوړښت لري، چې لومړی بیت یې ۹ سپلابه او دویم ۱۳یې سپلابه دی، چې په ټولیز ډول ۲۲ سپلابه کېږي. د دې لپاره چې د پښتو لنډیو په اړه مو د مالوماتو کچه لوړه شي، نو په دې اړه مو له ښاغلي استاد حبیب الله رفیع سره مرکه کړې چې تاسې درنو لوستونکو ته یې د لوستلو لپاره وړاندې کوو.

حکیمي: که لومړی د لنډیو د نامه په اړه راته ووایاست، په ځینو سیمو کې ورته لنډۍ وایي په ځینو کې مصرۍ او په ځینو سیمو کې ټپې وایي.

استاد: دا چې لنډۍ د یو لوی ملت، ګډه پانګه ده او دا ډېره ستره، قیمتي او ارزښتناکه پانګه ده، ما چې تر اوسه مطالعه کړې د نړۍ په ولسي ادب کې مې د لنډۍ جوړه نه ده پیداکړې. له همدې امله پښتنو ته ګرانې دي او داسې پښتانه به ډېر لږ پیداشي چې یا یې نه وي زده او یایې جوړې نه کړي، له همدې امله په هر ځای کې پرې له شرایطو سره سم نومونه اېښودل شوي دي، البته دا د ولس نومونه دي، ځینو خلکو تعبیرونه ترې کړي لکه یو تعبیر یې دا دی چې لنډۍ یو لنډ شعري ټولګی دی، یعنې نهه سپلابه یې لومړۍ مصرۍ ده او دیارلس سپلابه یې دویمه مصرۍ ده او دا ټول دوه ویشت سپلابه کېږي، له همدې امله ورته لنډۍ وایي. بل تعبیر یې دا کړی چې لنډۍ د مار یو ډول دی او هغه ډېر زهرجن مار دی یعنې ډېر اغېزمن دی او د چیچ زهر یې ډېر زر اغېز کوي. دوی د لنډۍ دا مطلب او هغه ښکلي الفاظ دوی ډېر اغېزمن بولي دومره موثر او اغېزمن یې بولي لکه لنډۍ چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجود ژر اغېز کوي، دا هم په احساساتو داسې اثر کوي او احساسات راپاروي، ويښوي او ځپاند کوي يې، له همدې امله ورته لنډۍ وايي. او بل په لره پښتونخوا کې ورته ټپه وايي، د ټپې هم ډېر تعبيرونه شوي، دا چې له ټپ سره تړاو لري يعنې داسې اغېز لري چې په سړي کې ټپ جوړوي، زخم جوړوي دا معنا هم لري. مصرۍ هم ورته وايي ځکه دا دوه مصرۍ دي او سره راټولې شوې دا يې يوه معنا ده او بل مصرۍ يوه توره ده چې هغه په مصر کې جوړېده او په پښتنو کې ډېره مشهوره ده، ... په ما دې کړې د مصرۍ تورې واورونه... دا هم د اغېز له امله ورته د مصرۍ نوم اخيستل کېږي چې دا هم ډېر اغېز لري. په دې سربېره ځيني نور ولسي نومونه هم لري د بېلګې په توګه، غريبۍ، غريبۍ په هغه وخت کې چې يو څوک مسافر شي، يا کوم غم پرې راشي، له ځانه سره ناست وي او غمجن او لنډۍ وايي، دې ته غريبۍ وايي، غړنګې هم ورته وايي، ډېر نومونه يې نور هم شته چې ما اورېدلي دي. په هر حال دا ټول نومونه د لنډۍ له اغېز او تاثير څخه اخيستل شوي. په ټولو کې دا نغښتي چې لنډۍ يو ډېر اغېزمن شعر دی او په احساساتو او عواطفو ډېر ژور اغېز لري. د شکل له نظره هم په ډېرو ښکلو الفاظو جوړ شوی، او د موضوع له نظره يوه ژوندۍ موضوع په دې دوه مصرو کې ځای کېږي او لکه يو سر تړلی ځنځير دی چې موضوع بل ځای ته نه ترې ځي، په دوه مصروکې يو ښکلی مضمون ځايېږي او انسان ته يو ښکلی مفهوم لېږدوي. له همدې امله د لنډۍ اغېز هم د شکل او الفاظو له نظره او هم د معنا له نظره ډېر زيات دی ډېر اغېزمن دی، له همدې امله لنډۍ ته دوی زيات ارزښت ورکوي.

حکيمي: استاده! سړی دعوه کولای شي چې د تراژيدۍ ډک يو ډول ژانر دی، ځکه چې له دريو نومونو څخه مصرۍ، چې له مصرۍ تورې اخيستل شوې، تاته به خاورې خولګۍ درکم، پر ډال دې نشته د مصرۍ تورې واورونه، يا لنډۍ چې له ماره اخيستل شوې يا هم ټپه چې دا هم له ټپ څخه اخيستل شوی دی، سړی دعوه کولای شي چې لنډۍ يوازې يو تراژيدي ډول شعر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد**: تاسې پوهېږئ چې تراژیدي یوازې دغه حالت ته نه وایي، کله کله سړی ډېر خوشاله شي وژاړي، یعنې له دې څخه د لنډۍ اغېزمنتوب مطرح دی، ډېرې لنډۍ دي چې هغه تراژیدي نه دي خو ډېر اغېزمن او ښکلی تصویر لري:

په ګودر سور سالو ښکاره شو

ماوېل په تورو اوبو اور ولګېدنه

څومره لوی اغېزم پکې پروت دی.

بېلتونه راشه سترې مشې

زړه مې پښتون دی مېلمه نه خپه کوينه

د پښتونولۍ ټوله فلسفه په دې يوه لنډۍ کې راټول شوې ده.

ځان يې زړو جامو کې جوړ کړ

لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وينه

دا د غربت يو لوی تصوير دی، د پښتنو د غربت خو په عين حال کې د ښکلي ذوق ښې ثليقې، يعني غريب هم کولای شي چې د ژوند په مسايلو کې هم له ذوقه کار واخلي، نو په دې اساس لنډۍ يوازې تراژيدي نه دي، بلکې زما نظر دا دی چې په لنډۍ کې د پښتني ټولنې هر هغه څه چې دوی ورسره سروکار لري شته او پکې نغښتل شوي دي، يعني دوی د پښتنو ټولو پوښتنو ته ځواب وايي، لنډۍ د پښتنو ټولې غوښتنې منعکسوي، او په لنډيو کې د ژوند ټول حالات را نغښتل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکيمي: تاسې يو وخت ويل چې په لنډيو کې ډراماټيکې لنډۍ هم شته، چې په لنډيو کې خبرې اترې شوې، د يوې ډرامې بېلګه مو ورکوله، اوس مو په ذهن کې داسې کوم څه شته؟

استاد: هو بالکل ولې نه، ډېرې دي.

په سپينه خوله مې د پرار وکړ

زه به بخيلې مور ته څه ځواب کومه

مور ته دې داسې ځواب ووايه

زه له منګي سره ګودر ته ولوېدمه

که مور دا وايي چې دا بې منطقه خبره ده، نو:

مور به مې داسې راته وايي

منګی دې روغ، په خوله دې راوړل پرهارونه

دی بيا وايي

د مورکۍ ځواب دې ده داسې

منګی په خټه زه په زغه ولګېدمه

او بيا چې ځواب منطقي هم وي ورته وايي چې،

د مورکۍ ځواب خودې اوس جوړ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ملاله خوله مې کېکاږه غاښونه

دا ډول دي لکه:

زړه مې له سترګو ګیله من شو

چې دیدن ته کړې، عبث غم زه تېرومه

سترګو له واره ځواب ورکړ

چې مین ته یې اوښکې بیا زه تویومه

دا ډول ډراماټیکې لنډۍ ډېرې زیاتې دي، د ژوند ښکلې ښکلې صحنې چې په ژوند کې پېښېږي، هغه په هر ډول په لنډیو کې ځای شوې دي، د بېلګې په توګه ما مخکې وویل چې لنډۍ سرتړلې ځنځیر دی، لیکن په پوښتنه او ځواب کې بیا سوال په یوه لنډۍ کې او ځواب په بله لنډۍ کې، بیرته یې هره یوه ځانګړې سرتړلې ځنځیر دی.

**حکیمي**: د کاکړیو غاړو سره که چېرې سرې لنډۍ پرتله کړي، کوم ډول به یې لوستونکي ته آسانه وي، کاکړۍ غاړې او که لنډۍ؟ د تصویر او موضوع له پلوه کوم ژانر پکې ځواکمن ښکاري؟

**استاد**: لنډۍ د ټولو پښتنو په ټوله پښتونخوا کې خپور ادبي ټولګی دی، نو داسې پښتون او پښتنه به پیدا نکړې چې یا یې لنډۍ ویلې نه وي او یا یې لنډۍ زده نه وي، نو په همدې اساس د کاکړیو یا د غاړو ساحه وړه ده، هغه په ټوله پښتونخوا کې خپرې نه دي، بل د کاکړۍ جوړښت ځانګړی دی، دا چې ته وایې چې لنډۍ دوه ویشت سېلابه ده او هغه یا څوارلس سېلابه دي یا شپاړس سېلابه دي هغه معمولاً څوارلس او شپاړس سېلابه دي، مصرۍ یې یا اوه سېلابه دي یا اته اته، هغه بېله موضوع ده په آسانۍ کې رول نلري، هغه خپله هماغه یو ټولګی دی، خپل مطالب او خپلې غوښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، هغه هم تقریبا د لنډیو په لار روان یو ټولګی دی، د ژوند ټول مسایل پکې رانغښتل شوي، حماسي لنډۍ پکې شته، ټولنیزې لنډۍ پکې شته، حتی تر کومه چې مامطالعه پکې کړې، په ځینو ځایونو کې له لنډۍ نه هم حساسې دي، په هغو کې د ژوند مسایل ډېر ژر منعکس کېږي، په لنډۍ کې مسایل ډېر ورو ورو منعکس کېږي لکه:

د ښو ټوپکو استاکاره

د ښو ځوانانو مرګ به ستا له لاسه وینه

دا د ټوپک د وخت لنډۍ ده لېکن اوس د توپ او مزایل لنډۍ ډېرې کمې پیدا کېږي، خو غاړې چې دي هغه بیا روانې دي د ژوند نوې پیښې ټولې پکې نغاړل کېږي لکه:

راځه چې دواړه توکل کړو، زما چارګل په سګرېټ ورکړو

دی وایي:

زما دې خاورې شي ځواني، چې ستا چارګل په سګرېټ ځي.

نو په دې کې د سګرېټ، اورګاډی او نوي مسایل هم رانغاړل شوي دي، نوي مسایل چې راځي ډېر ژر په غاړو کې ځای شوي دي، په لنډیو کې لږ په ځنډ هغه راځي تر کومه چې ما مطالعه کړې، لیکن په هر صورت، د لنډیو کړی لویه ده، او د کاکړیو وړه ده، نو په همدې اساس یې هېڅکله له لنډیو سره په پرتله کې نشو اېښودلی.

**حکیمي**: تاسې د نوو خبرو یادونه وکړه چې په کاکړیو کې ځای شوې او په لنډیو کې تر اوسه نه دي ځای شوې، په لنډیو کې هم داسې بېلګې اوس شته، لکه یوه طنزیه لنډۍ وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبر مې سورى کړه حال مې ګوره

چې مبايل مې اوس آنتن نه ورکوينه

يا بله يوه وايي:

چې دې ياري په مسېجو شوه

له داسې مينې دې خپل ځان ډيليټومه

د دغه ډول کلمو يا هم د نورو کلمو راوړل په لنډيو کې څرنګه کار دى؟

استاد: لنډۍ د ولس مال دى، دا چې ځينې کسان لنډۍ جوړوي، هغه بېله خبر ده، ډېر کسان په دې کلونو کې د لنډيو په څنګ کې يې خپله لنډۍ جوړې کړې او مجموعې يې جوړې کړې. لېکن هغه لنډۍ شوې نه دي، هغه وخت لنډۍ کېږي چې د ولس سايکل يا دوره ووهي له هغې وروسته ولسي ادب کېږي او ولسي لنډۍ ترې جوړېږي، لکه په لنډيو کې زياتې لنډۍ شته چې د طالبانو، يا د عالمانو لنډۍ دي:

کتاب تمام طالب روان شو

تر حجره ګرده تاوېدم په لمبو سومه

يا نور ژور ژور منطقي مسايل دي چې په لنډيو کې رانغښتل شوي دي، ليکن هغه عامې شوې نه دي، لا د ولس نه دي شوې او د ولس ادب ته نه دي ننوتې. ولسي لنډۍ هغه لنډۍ دي چې شاعر يې په ولس کې ووايي او شاعر يې په ولس کې ورک شي، لنډۍ په ولس کې خوره شي او بېرته يې موږ د ولس له خولې راواخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله داسې کېږي چې يوه لنډۍ يو ځاي يو ډول ويل کېږي خو بل ځای په بل ډول، لکه:

يار مې د خوست زه د تيرا يم

خدايه خوست وران کړې چې جوړه تيرا ته ځونه

خو دا لنډۍ بل ځای داسې ويل کېږي چې:

يار مې د کوټ زه د تيرا يم

خدايه کوټ وران کړې چې جوړه تيرا ته ځونه

د دې بدلون لامل ستاسې په نظر په څه کې دی؟

استاد: دا د ژوند د کولو لپاره، هر شی هڅه کوي ژوند وکړي، د هر څه مبارزه روانه ده، لنډۍ شفاهي شی دی، له يوې خولې بلې خولې ته ځي، له يوې سيمې بلې سيمې ته ځي، په دې لېږد کې داسې بدلونونه پيدا کوي چې غواړي پکې د خپل پايښت لپاره له هغو څخه کار واخلي لکه دا لنډۍ چې يار مې د کوټ زه د تيرا يم دا لنډۍ که خوست ته ځي، دا لنډۍ که د کوټ او د تيرا وي پنځه ورځې وروسته يادېږي ځکه که له خپلې سيمې سره مينه لري، نو په همدې اساس دا منطقوي نومونه بدلېږي، سيمه ييز اتلان پکې بدلېږي، په يوه لنډۍ کې په يو ځای کې يو کس اتل وي خو هغه لنډۍ چې بل ځای ته ځي بل اتل مومي، د هغه ځای مشهور اتل ورسره اچول کېږي چې دا لنډۍ ژوند ورسره وکړي. حتی لنډۍ يو بل کمال هم لري، لغتونه بدلوي، د لغتونو په بدلېدلو سره ژوند کوي اوس دا لنډۍ د زرګونو کلونو لنډۍ ده:

سپوږمیه سر وهه راخېژه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

دا (جون زانولسونيو) يو پښتو پوه څېړونکی دی هغه وايي چې دا د هغه وخت لنډۍ ده چې آريايان به د شپې لخوا د سوما د بوټي د لو کولو لپاره غره ته تلل او بيا به انتظار وو ترڅو د ځوارلسمې سپوږمۍ راوخېژي او دوی د سوما بوټي لو کړي، ځکه که دا په لمر کې لو شوي وای شيره يې خرابېدله، نو دوی به د سپوږمۍ د شپې انتظار ويست او ټول به راټول وو بيا به يې د دې بوټي لو کاوه او له هغه به يې شيره ايستله او له هغه به يې مشروب جوړول چې دوی ته ډېر مقدس وو او له هغه به يې استفاده کوله. دا لنډۍ يا له ځوارلسم وړاندې ويل شوې، يا په داسې ځای کې ويل شوې چې غرونه لوړ دي او سپوږمۍ ژر نه راخېژي يا هر څه چې دي د مينې لخوا دا لنډۍ ورته ويل شوې ده چې

سپوږميه سر وهه راخېژه

يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

نو په دې لنډۍ کې چې کوم لغتونه دي دا په ژبه کې عادي دي، فکر کېږي چې دا لغتونه يې هم د وخت په تېرېدو بدل شوي ځکه که هغه زاړه لغتونه وای نو په هغه څوک نه پوهېدل نو هغه يې همداسې پرې ايښې دي.

يادا چې:

مازديګرۍ دی ښېرې مه کړه

ته به د ناز ښېرې کوي ريښتيا به شينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د لمر پالنې د وخت لنډۍ ده، کله به چې لمر لوېده نو په دې وخت کې به لمر پالونکو عبادت کاوه دوی باور درلود چې په دې وخت کې هره دعا قبلېږي، نو په همدې اساس ګوري چې مینه )معشوقه( ښېرې کوي او هلته مازیګر دی نو وایي چې:

مازدیګری دې ښېرې مه کړه

ته به د ناز ښېرې کوې رېښتیا به شینه

دا د هغه وختونو لنډۍ دی خو کلیمې یې نوې دي او ټولې بدلې شوې یوازې فکر یې را لېږدولی دی، ما وویل، چې هغه یو کس جوړوي، لیکن د کس په نامه ځکه نه وي چې هغه ټولنې ته ځي، ټولنه یې لکه شعر هسې نقد کوي، ټولنه پرې نقد کوي، ډېر شیان ترې توږي، او خلک پکې ښکلې ښکلې لغتونه اچوي او خراب ترې باسي، نومونه پکې بدلېږي، ځایونه پکې بدلېږي په ټوله پښتونخوا ګرځي او ژوند کوي او ټول پښتانه ورسره بلدېږي.

**حکیمي**: تاسې د څو لرغونو لنډیو یادونه وکړه د تاریخ له نظره څېړونکو دا خبره تر کومه ځایه رسولې چې لنډۍ له کوم مهال راهیسې ویل کېږي.

**استاد**: د لنډیو لرغونتوب د آریایي سندرو له لرغونتوب سره سم دی، علامه کهزاد دې خدای وبښي هغو د افغانستان په تاریخ کې یو عجیب ابتکاري کار کړی هغه وایي چې په نړۍ کې د هېوادونو ژوند دوه برخې لري، یوه تر تاریخ وړاندې دوره ده او یوه هم تاریخي دوره ده، لیکن د افغانستان ژوند درې دورې لري، یوه تر تاریخ وړاندې دوره ده، یوه د سرودونو او داستانونو دوره ده او یوه هم تاریخي دوره ده، د سرودونو او سندرو دوره داسې مهال ده چې خط لا ندې رامنځته شوی، لېکن د ولس شعور د شعر په ژبه رامنځته شوي چې هغه لومړی ویدي سندرې دي، ویدي ورکې سندرې دي د آریانا ویجه په خاوره کې کابو څلورنیم پنځه زره کاله پخوا ویل شوې دي، بل د ریګوېدا ده چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مهال دی، چې کله له بلخ څخه لېږدېدنې پيل شوې او آريايان له هندوکش څخه را واوښتل او پښتانه په موجوده پښتونخوا کې مېشت شول، يوه برخه آريايان پاس ته ولاړل يوه بله برخه هند ته لاړل په دې وخت کې د ريګويدا سرودونه ويل شوي چې پکې د پښتنې سيمو د قبيلو، سيمو، سيندونو او ځايونو نومونه راغلي، په همدې دوره کې د پښتو ژبې کليمې هم ليدل کېږي او دا هغه وخت دی چې پښتو ژبې هم تشکل کړی، او دغه ادبيات پښتو ژبې ته له آريايي ژبو څخه له ويدا او اوستا څخه رالېږدېدلي دي، په دې اساس د پښتو لومړنۍ سندرې د ماشومانو او ميندو سندرې ورپسې لنډۍ دي، دا له همغو آريايي سندرو څخه ډايرکټ يا نېغ په نېغه رالېږدېدلي دي، ځکه موږ د ماشومانو او ميندو په سندرو کې داسې مصرې لرو چې هغه سګنالونه دي او معنا نلري، چې دا ترې ښکاري دا د هغه وخت د ژبې لغتونه دي چې مستقيما راغلي او په پښتو کې پاتې دي:

اکو بکو سرسيندکو... هيڅ معنا نلري، يا هم اللؤ لؤ...

بل د ويدي سرودونو يوه برخه داسې هم شته چې هغه دوه ويشت سېلابه دي، شمېر يې نه او ديارلس نه دی خو ټولګه يې دوه ويشت سېلابه ده، بل غاړې دي چې د هغو زيات وزنونه په اوستا کې شته، اوستايي سندرې دي چې د هغو زياتره په اوو او اتو سېلابو کې ويل شوې دي، د ماشومانو او نورې ورته سندرې شته چې وروستني وزنونه يې په هغو ژبو کې هم لېدل کېږي. نو په همدې اساس د پښتو د ولسي ادب ژوند د پښتو له پيدايښت سره سم دی کله چې پښتو د آريايي ژبو په کورنۍ کې سترګې غړولي ورسره سم پښتو ولسي ادب هم سترګې غړولي او ځينې شيان يې تيار له هغه ځايه را اخيستي او په خپله ژبه کې يې حل کړي دي، او ساتلي يې دي چې تر ننه پورې رارسېدلې دي، نو د لنډيو ژوند ډېرو لومړيو کلونو يعنې څلورو څلورنيمو زرو کلونو ته رسولای شو.

**حکيمي**: کله مو د لنډيو په تاثر کې کوم شعر ليکلی دی او يا له لنډيو سره کومه خاطره لرئ لکه الفت صاحب چې په خپلو خاطرو کې يوه خاطره ليکلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چې پرمخ خپېږه راکړه

د اوښکو ډکې سترګې چا ته واړومه

**استاد**: زه د ولسي سندرو او لنډيو په غېږ کې لوی شوی يم زه تر لس کلنۍ او دولس کلنۍ پورې په کلي کې وم زه بالکل د فلکوري او ولسي ادب په غېږ کې را لوی شوی يم ما په هغو محفلونو کې چې ښځو به پکې راز راز سندرې ويلې يا به اتڼونه وو، زموږ کلی درې برخې دی، په منځ کې يو ځای شګه ده، په دې شګه کې به د شپې اتڼ وو دلته به يې په منځ کې اور بل شوی وو او شاوخوا به يې اتڼونه کول، ډولونه به وهل کېدل، د دغو خلکو خبرې به د لوړو لوړو کلاګانو باندې لوېي لوېي ښکارېدې زه به هم ورته په بام ناست وم او د دې خلکو هغه لوېې لوېې خبرې به مې ليدلې چې تر اوسه يې زما هغه تصوير په ذهن کې پاتې دی، نو ما په کلي کې ژوند کړی، له لنډيو سره مې ژوند کړی او د لومړي ځل لپاره چې ما د شعر په نامه کاغذونه تورول، ما لنډۍ، غاړې او نورې ولسي سندرې هم ليکلې، يوه لنډۍ چې هغه وخت ما ليکلې وه او بيا يې د ځينو خلکو له خولې اورم.

بېلتون ټوپک شو را ته ډک شو

ناڅاپه ټک شو په زړګي يې وويشتمه

دا لنډۍ کابو پنځوس کاله وړاندې ما ليکلې وه او اوس يې د ځينو ځينو له خولو اورم، نو زه ويلې شم چې زه د لنډيو په غېږه کې رالوی شوی يم او له لنډيو څخه ډېر خوند اخلم زه فکر کوم چې لنډۍ ډېر موجز او موجز ادبي ټولګی دی، زه يې هېڅ ټولګی ساری نه وينم، زه يې د نړۍ په پرمختللي ادب کې هم ساری نه وينم، نه دا چې زه پښتون يم او پښتو لنډۍ مې اورېدلې، دا خبره د پښتو لنډيو د هغو اعجاز له امله کوم چې په درويشتو سېلابونو کې يې سمندر را نغاړلي دي هغه په کوزه کې سمندر کيسه ده، ځوانانو ته زما توصيه داده چې د لنډيو په ټولولو کې په ډېره امانتدارۍ هڅه وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټولې يې کړي او ويې ليکي څکه يو شمېر د لنډيو ټولګې چې خپرې شوې دي يو څه مصنوعي لنډۍ پکې ټولې شوې، خو بيا هم د اصلي او مصنوعي لنډيو تر منځ توپير شته، داد ځوانو فولکلوريستانو دنده ده چې دې ته پوره پام وکړي په لنډۍ هر اړخيزې څېړنې وکړي، لنډۍ د هره اړخه، د جوړښت، موضوع او صراحت له اړخه ورته کار وکړي، پښتو ټولنه دوديزه ده خو لنډۍ هغه هرڅه په ډېر صراحت بيانولای شي:

سبامې ستا په تومت وژني

ځای دې راستې دی چې منکر نشې مينه

سبا مې ستا په تومت وژني

غولی جارو کړه چې په شړک مې وينې ځينه

ډېر داسې مسايل دي چې ډېر په جرئت سره هر څوک، معشوقه او هر څوک خپلې خبرې بيانولای شي، دغه راز نور مسايل هم بې له وېرې او محدوديت پرته مطرح کېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په لنډيو کې طنزي او خندونکي توکي

**محمود نظري**

لنډۍ هغه ولسي شعرونه دي چې شاعر یې مالوم نه دی او د پښتني ژوند ډيري خواوي په کې په واقعي او طبيعي بڼه انځور شوي دي

لنډه د مفرد مؤنث کلمه ده ، لنډۍ د لنډه بڼه ده ، د لنډۍ لومړنۍ برخه لنډه او دويمه برخه يې اوږده ده ، له دې کبله ورته لنډۍ وايي.

ته د ګودر غاړې ته راشه
ما په منګي کې پراټې راوړې دينه

لنډۍ هغه موزون ، غير متعارف ، مستزاد ، حکمي مقفی ، غير مصرع بيت دی چې لومړۍ برخه يې نهه (۹)څپې او دويمه برخه يې ديارلس ((۱۳)) څپې وې

په ګودر څه ټکه لويدلې
چې کشره خور يې بدرګه ورسره ځينه

پښتنو په غرو او رغو کې ، په کليو او ښارو کې ، په شنو درو او لويو دښتو کې ، د ابشار خنګ او د کږدۍ اړخ ته د چوپان په شپيلۍ او د بڼوال په درو کې په يو شان خوند اخيستل کيږي . زاړه يې د ځوانۍ د خاطراتو په ياد وايې ، زلميان او پيغلې يې د خپل زلميتوب شور او مستي پکښې لټوي ، مينانو ته د راز او نياز رويباری کوي ، توريالی ورسره د تورو په ميدان کې ګډيږي او مسافر يې په مسافري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د خپل وطن تنده پرې ماتوي . د اشعرو نه چې څومره ساده، سليس او روان دی هغومره د پرديو ژبو له اغيزې څخه پاک او سپيڅلې دی.

گودرته راغلی برابره
يا خو لگی راکړه يا منگی در ماتو مه

لنډۍ ځانگړي ښکلا لري او د هر پښتون تنده پرې ماتيږي او په ژوند کې مينه ، ښکلا ، مېړانه، ننگ په ښکاره توگه بيانوي.

چم ته انگريز راغی عالمه
دپښتنوپه ملک جال وغوړاونه

د لنډيو يوه ځانگړتيا دا ده چې زياتره يې د ښځو او پيغلو له خوا چې د ټولنې محرومه برخه ده ويل شوی دی نو يوه لويه برخه يې د ټولنې کرغيړنو دودونو ته گوته نيول شوی او هغه يې په طنزي توگه ويلي او غندلي دي.

د شين کيدو اميد مې نشته
اشنا په دښته د ملتان کرلي يمه

پټې دې گرو کړه ما واده کړه
که مې تر کاله زوی رانه ووړ گرمه يمه

اود لنډيو يوه بله برخه چې د ځوانانو لخوا ويل شوی ډير يې د ناوړه دودونو لکه د لوړ ولور د انجلی خوا راضی کول او د ژوند نورو ناخوالو نه گيله ده

که مور او پلار دی خداي رضا کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماما ګانو به دي زنې ونیسمه

ځان خوبه ستادپلارنوکرکړم
په نوکرۍ کې به دې تش دیدن کومه

لنډۍ یا ټپې هم لکه نور ټولنیز ادبیات د ټولنیزو ستونزو او فسادوتو یادونه او غندنه کوی او په ملنډو هغه یادوی

منګي یې ټول په ډنډ غو په کړل
د شیطا نی منګی په لپو ډکو ینه

طنز چې دټولنې او اخلاقي خواریو ،عیبونو او فسادونو برملا کولو ته وایي چې په رمز ، کنایه اوناز ویل یا لیکل کیږي

یا په بله وینا:

ویلای شو طنزد زورکونکو او زورواکانو باندی نیوکې دي چې هغوی په مسخرو له پېښو خبروي. لکه دا لاندی لنډۍ.

ځوانانوننګ راباندې وکړئ
پلارمې ظالم دی ماښامارلره لېږینه

ځوانانوننګ راباندې وکړئ
په سورسالوکې مې بلالره لېږینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه طنز دیوې ټولنې دوګړو هنري تنده ښه خړوبولای شي او په رساتوګه یې دټولنې له سیاسي، مذهبي، کلتوري، اواقتصادي حالاتو څخه خبروي. لکه دا لنډۍ

پردنیاتول دسړونشته
تول دپیسودی مسلیان خانانوینه

څوانانوزوریه بزګری کړئ
سپینې پایڅې دزروڅلي ورانوینه

څواني دزرو روپواس دی
دبیلتانه پیټې چې وړي سوده به شینه

طنزپر ژوند عارفانه خندا ژړا ده . د ژوند د تضادو او نا ناخوالو لڅونه ده، چې ټولنیزي موخې لري لکه دا لنډۍ:

پرمادې زر شیندلي نه دي
چې دځراغ په رڼا غواړې دیدنونه

طنز د پوه خلکو لپاره ویل کیږی یانی په خوشالۍ او ملنډو سره د هغه چا په رمز پوهول دی چې په رمزپوهیږی

څوک چې په سروشونډوعادي شي
قندوشکرې تویوي چې ترخه دینه

یوازې پوه او هوښیار خلک له طنز نه خوند اخیستلای او پر پوهیدلای شي او ناپوه یې یوازې خندنی اړخ ګوري خو د ټولنې ټول خلک پوهان نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بسم الله کتې ته ورخېژه
دنجلۍ کتې دجنغوزي دئ مات به شينه

طنز د هجو يو ډول دي خو د هجو تونديي اوتيزي نه لري.
يانى هجو مخامخ د چا عيونه ورته وايي يا مخامخ له چا نه بې پردې پلپوت کوي او هغه چا ته ويل کيږى چې په رمز نه پوهيږى.

پرځان دګلولښته نه اخلې
پرمادې تېرکړل دکوتکوګوزارونه

جانانه دادې څه عادت دى
چې پټه پټه يارې کړې خورې قسمونه

پرېږده چې لوى ښامار مې وخوري
په پاړوګر اشنامې ډېره نازېدمه

هجو ويونکى د خلکو بې خبري ، ولس غولونه،تعصب خداى نا ډره دينپالو له کړو نه پرده پورته کوى اومخامخ هغوى غندي .

چې اوږه نه خورى بوئ ترې نه ځى
چې يارى نه کړې ثوک پرې نه واىٔ تهمتونه

ټال ته ختم بنګړي مې مات شول
ګناه دې يارده چې کوي اشارتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هزل بيا هغه دی چې پر چا باندی بد وايي

چې پر زينه ختلی نه شې
نامردې ولې دې گيبی پرتوگ کاونه

هزل د ويیپوهنې په اساس هغه شوخی ته وايي چې د جد(پند)ضد وی

پيزوان مې ستا په بريت کې بند شو
تر دروازې پورې بندی درسره ځمه

دا هزل بله مانا ده په شعر او نثر کی توندې لوڅي او بدې خبرې کول:

په مادې څه بلا ده کړې
په مخ مې غبرگې اوښکې ځې خوله درکومه

پر ما دې کلی گماني کړ
نامردې مه خوره تر منگې لاندې څرخونه

هزل په شعر او نثر کې هغو توکو ته هم وايي چې د هغه ويل د اخلاق او ادب خلاف وي :

په مناسب دې نه پوهېږم
وايه په کوم بارخودې خوله ولگومه

په خپله خوله چې سوال ونه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه دغه خولګۍ کله درکومه

اول دې لوبې راسره کړې
اوس دجستوپرڅوکوځې چې پېغله يمه

بيابه زه تورکميس ونه کړم
زمادسپيني سينې رنګ يې واړاونه

ټينګه مې مه نيسه په غېږ کې
تې مې واړه دې سږنۍ بالغه يمه

خوله به د خدای په رضا درکړم
منګۍ مې ولی ښوروی لنده دې کړمه

جانان مې خوله کې ژبه غواړي
په خونديې نه دی خپل قلنګ جاري کوينه

څانګې راښکته شه خوله راکړه
که زه درپورته شم راماته به دې کړمه

هزل د عامو او منځنيو خلکو لپاره هم ويل کيږی چې موخه يې يوازې خندا اوساتيري ده:

حلوا دشونډو راته کيږده
زه له پردېسی سترې راغلی يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک به دې مړکړي ښکلیه یاره
پردی برستنې جګوې شمارې خالونه

یا هغه لنډۍ چې په کښې ټوکې شوی او موخه یې د جانان خوشالول او د هغه خندول دی لکه:

تا چې کوټه کې ټوخی وکړ
زه په توده بړستن کې نیغه کیناستمه
جانانه راشه چې خوله درکړم
ماښام مې مړ په خوب لیدې وویریدمه

ښنګه دې خواره کړم خاونده
چې همسایه مې دخولګۍ تمه لرینه

حسن دې ورځ په ورځ زیاتیږي
زکات یې باسه چې نظرنه شې مینه

اخځلیکونه

۱-ټول افغان، لنډۍ

۲-ستانکزی،رفیع الله:خوست ویپاڼه

۳-مهر ویب پاڼه

۴- لنډۍ ، ویکی پیدا

۵-نظری،محمود: طنز،هجو او هزل ،طنزونه ویب پاڼه

٦- نظری،محمود: دطنز ځای په ادبیاتو کی طنزونه ویب پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډۍ د ګلونو په سمندر کې

محمد حامد حليمي

ګلونه ډير درســــــــــــه راوړه
زه داوربل دپاسه چتر جوړومه

لنډۍ دپښتو د اولسي ادبياتو هغه غوره او په زړه پوري برخه ده ،چې د اولس بې نومه شاعرانو پکې دبشر دژوند تر ټولو عالي شيبې په دوو نا متوازنو بيتونو کې په ايجاز بيان کړي دي (1)
دلنډيو په ويړه لمن کې بيلابيلې لنډۍ راټولي او ډول ډول فلکلوري ارزښتونه يې په ځان کې نغښتي دي . په هره لنډۍ کې ځانګړي ښکلا ځليږي او دانسان ژوندانه له هرې برخې څخه پکې ښکلې شاعرانه او اديبانه انځور کاږل شوي دي . دمضمون له پلوه لنډۍ عشقي ،حماسي ،رزمي،ټولنيز،تاريخي او د نورو مضامينو لرونکي ده.
لنډۍ په پښتو ژبه کې يوه لنډه سندره ده چې هره لنډۍ له دوو برخو څخه جوړه ده ،لومړۍ برخه يې نهه سيلابه او دوهمه برخه يې ديارلس سيلابه لري .لنډۍ که څه هم کوم ځانګړي او معلوم ويناوال (شاعر) نه لري او په عادي بڼه په پښتني او لس کې دوخت دغوښتنو سره سمې مينځ ته راغلي او خوله په خوله او سينه په سينه له يو نسل څخه بل نسل ته راليږدول شوي دي خو بيا هم نژدې ټولې لنډۍ دجوړښت له مخې سره يو شان او سيلابونه يې سره برابر دي (2)
دلنډيو يو ستر ارزښت دادي چې دهغه سندريزه ځانګړتيا او آهنګ روزنکي فطرت دنړي په ټولو فولکلوري شعرونو او سندرو کې ممتاز دي او ساري نه لري .زموږ جغرافيايي سيمې په فولکلوري قلمرو کې هيڅ سندره نه دخپل آهنګې ځانګړتيا ، نه دخپلې تغزلي شتمنۍ ،او نه د سموالي او هيجان له پلوه له لنډيو سره برابري کولي شي ( 3)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلنډيو دنورو بيلابيلو ځانګړتياوو تر څنګ يوه هم داده چې لنډۍ په ډير خواږه او ساده الفاظو ويل شوي او هر ډول مضامين او په عامه اصطلاح دهر ذوق وړ مطالب پکې موندل کيږي . لنډۍ ددې ترڅنګ چې دانسانانو له خوا دژوندانه په حساسو شيبو کې دعام ولس له خوا زمزه کيږي ، دټنګ ټکور او ساز وسرود په بڼه هم دهنرمندانو او سندرغاړو غړونو ته ښکلا وربښي . په لنډيو کې دنورو ښکلاوو تر څنګ ډير ښکلي او هنرمندانه تشبيهات هم کار ول شوي دي دبيلګې په توګه:

زما دې زړه داسي سوري کړ – لکه دګل غوټي چې پاڼي پاڼي شينه

سورخې دمخ دې شغلي وکړي – لکه سورخي دماښام سره کا وطنونه

کميس دې تور متې دې سپيني – لکه ښامار چې تر چندڼ تاوشوي وينه

لکه څرنګه چې وينو په پورتنيو لنډيو کې زړه له ګل او کټري يې دګل له پاڼو سره ،دمخ سوروالۍ د ماښام له سوروالي ، کميس له ښامار اومتې له چندڼ سره تشبيه شوي دي.

په لنډيو کې ځيني داسي ښکلي او نادر بشبيهات هم په کار وړل شوي دي چې د شعر او نظم په نورو فورمونو کې يا په بشړه توګه نشته او که وي هم په ډيره لړه کچه تر سترګو کيږي لکه:

سترګي دې بې اثره نه دي – لکه دکوډو مرۍ برګي برګي دينه

زلفي دې بيا پرمخ خورې کړي – لکه شپانه چې رمې وشړي په غرونه

داستا دمور غټي خبري – لکه چکړي دکوڅو تري ځان ساتمه (4)

ددغه تشبيهاتو په لړکې يو هم ګلونه دي چې په ډيره ماهرانه او هنرمندانه توګه دبدن له بيلابيلو برخو ،دطبيعت او چاپيريال طبيعي ښکلاوو او نورو سره تشبيه کړل شوي دي.

ګلونه که له يوې خوا څخه ښکلې څيرې او بڼې لري او په طبيعي توګه دانسانانو پام ځان ته وراړوي ،راز راز ګلونه بيلابيل رازونه او حکمتونه لري ،له بلې خوا څخه بشر ګلونو ته ښيګڼې او نيکمرغۍ دسمبول په توګه ګوري او دهغې دنامه له يادولو او کارولو ،کرلو ،سيل او ليدلو څخه يو ځانګړې خوند تر لاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رښتيا هم دګل نوم په يادولو سره انسان ته دګلاب ښکلې څيره ،دلاله دزړه داغ ، دلونګو دغاړې هار ،دکشمالو رپيدنه او دانځير ددېدن ورک والې او ارمان سترګو ته دريږي . انسانان له ګلونو څخه ډول ډول انګيرني او عقايد لري . دبيلګې په توګه زيرګل دجدايي علامه او سور ګل دمينتوب او وصال علامه اوسمبول ګڼي .دخپل زخمي زړه داغ د لاله دزړه له داغ سره مقايسه کوي ،دجانان ديدن د انځير له ګل او همداراز خپله خوښي دبلبل په بڼه دګلو په ديدن او له ګل سره په همدمی کې لټوي.

که څه هم کيداي شي دګلونو شمير له سلګونو څخه واوړي خو ځيني يې دخلکو تر مينځ ډير مشهور دي له همدې لامله ګلونه دلنډيو په فورم کې ګلونو ځانګړي ځاي خپل کړي دي ،دبيلګې په توګه له ځينو څخه يې په لاندې ډول يادونه کو:

## دګلاپ ګل

دلنډيو په سمندر کې ګلاپ دنورو ګلانو په پرتله ډير ياد شوي او ځانګړي ځاي لري .کيداي شي دګلاپ بې شميره ښيګڼې او رازونه ددې لامل ګرځيدلي وي تر څو په لنډيو کې يې نوم له نورو ګلونو څخه په لومړي کتار کې ځاي خپل کړي وی.

په لنډيو کې دګلاپ دګل اصيل توب ،سره ښکلې زړه راښکونکي څيره ،دمني او ناخوالو په وړاندې دهغې حساسيت ،له شبنم او بلبل سره دهغه نږدې اړيکې ډيرې ستايل شوي او يادې شوي دي او هم دښکلو تشبيهاتو په رامينځ ته کولو کې ورځيني کار اخيستل شوي دي ،لکه:

اصيل ګلاپ چې پکې نه وي – په نورو ګلو مې تسل نشي مينه

اصيل ګلاپ راڅخه ورک دي - کم اصيل ګل که بوي وم ډک دي باغونه

په ګورستان کې خاوري مه شي – ګل دګلاپ شي چې دې خاوري بويوينه

په ګورستان کې خاور ي مشي – ګل دګلاپ شي چې دې خاوري بويوينه

په وينو سور لکه ګلاپ شه – پښتني ناوې دې په تور اوربل کې بړدينه

خولګې دې سره لکه ګلاپ ده – ځکه يې واړه بلبلان ثنا کوينه

دنجلي مړاوي مړاوي سترګې – لکه ګلاپ چې ددوه نيمو ورځو وينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



گلاپه دا قدر دې بس دي – چې جينکۍ دې په اوربل کې گرزوينه
مخ دې گلاپ سترگي دې شمعه – زه نه پوهيږم چې پتنگ که بورا شمه

## لونگ

لونگ نژدي ټول پيژني او په ورځينو چارو کې په ځانگړي توگه په کليو او بانډو کې دکليوالو ښځو او نجونو له خوا تري اميلونه جوړيږي او په غاړه کې اچول کيږي .ځيني واړه ځونډي هم ترينه برابريږي او دکوژدي دنښې په دستمال او هم په جامو کې دکميس په لمن او گريوان کې گنډل کيږي.
هغه څه چې موږ دلونگ په نامه پيژنو او ښکلي بوي لري ،دلونگ دبوټي دگلونو واړه ډنډر دي چې له راټولولو څخه وروسته وچيږي او بيا ورڅخه کار اخيستل کيږي .په لنډيو کې له لونگ څه د ښه بوي او ښکلي بوټي په توگه په ځانگړي توگه دښځو لپاره ورځيني يادونه شوي ده . دگلاپ له گل څخه وروسته لونگ په لنډيو کې خاص ځاي لري . لکه:

آشنا مې نوي سوداگر دي – په سر باري کې به لونگ راته راوړينه
که چا لونگ ليدلي نه وي – نجلې خولې کړه دلونگو بوي تري ځينه
په لويو غرو دباران شور شو – ښکته لانده شول دلونگو درمندونه
چې ته راځې ما به خبر کړې – چې پرپالنگ لاچې لونگ وغوړمه
دا بند په بند به شم در ماته – په بند ماتيږي د لاچې او لونگ ونه
دباغ دې هر بوټي لونگ دي – پري ليگيدلي دي دچټو پلونه

## کشمالي

کشمالي هغه ښکلي گلان دي چې دنازبو گلونه هم ورته ويل کيږي (5)
دکشمالي گلونه که څه هم دظاهري بڼې له پلوه دومره زړه راښکون پکې نشته خو دکشمالو ښکلي بوي د هر کس پام ځانته واړوي . کشمالي توربخني پاڼي او گلونه لري . په لنډيو کې دکشمالو له ښکلو او په زړه پوري عطرو څخه دنورو ځانگړتياوو په پرتله ډيره يادونه شوي ده ،دبيلگې په توگه:

جينکو نوي دود جاري کړ – دکشمالو باغچې په بام کې جوړوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجيني کور راته معلوم دي – دبام په سر يې کشمالي کرلي دينه
دکشمالو به دې باغوان شم – چې هر سهار يې په وړيا ديدن کومه
ګلان دې ټول له تا قربان شي – ته کشمالي يې نور سلام درته کوينه
يا دې په خوله کې کشمالي دي – يا دې دعطرو په چينه لمبلي دينه

غاټول

غاټول يا لاله هغه ښايسته او ښکلى ګلونه دي چې سور رنګ لري خو تور سوي داغ يې په زړه تل دزخمي زړه زخمي توب څرګندونه کوي.

دپسرلي په موسم کې دغره په لمنو او دښتو کې دغاټول ښکلې ګلونه تر سترګو کيداى شي . په لنډيو کې دښکلو تشبيهاتو په ترڅ کې تر ډيره بريده دزړه داغ ،دلاله د زړه له داغ سره او سرو شنډو سوروالى د لاله يا غاټو ل له سره رنګ سره تشبيه کړل شوي دي لکه په لاندي لنډيو کې:

زما په زړه کې مستي داغ دي – لکه لاله چې تور داغ په زړه لرينه
که مې سرې شونډې در په ياد شوې – ګل دغاټول په لاس کې ونيسه مينه
غاټول به ټول اميل به جوړ کړم – د يار دپاره به يې په غاړه ګرځومه
يا دلاله په ګل شبنم دي – يا دې دمخ په ستارو خولې راځينه

نرګس

نرګس لکه څرنګه چې دنوم په يادولو سره يې هر کس ته ديار سترګې وريادېږي يو بوټي دي چې له عطرو څخه ډک ګلونه لري ،په ګلونو کې يې سپينې پاڼې داسې چاپيره شوي دي چې په منځنى برخه کې يې زيړ رنګه جوړښت لري .دنرګس يو ډول ګلونه چې ډير لږ پيدا کيږي داسې بڼه لري چې پاڼې يې سپينې دي او منځنى جوړښت يې تور رنګه ،رنګ لري چې په بشپړه توګه او کټ مټ لکه سترګه داسې ښکاريږي نو له همدې کبله ده چې په ډيرشمير نظمونو او په ځانګړې توګه په لنډيو کې سترګې له نرګس سره تشبيه کړل شوي دي . ددې ترڅنګ کله چې د شبنم څاڅکي دنرګس په ګل کې راټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي نو هغه د ه چې دغه رنګينې د نرګس د اوښکې په بڼه تعبير کيږي او ښکلي ادبي انځور ترينه اخيستل کيږي .لکه په لاندي لنډيو کې:

جانانه ستا جفا چې ګورم – لکه نرګس دفکر ټال مې زنګوينه

صورت يې سپين کميس يې شين دي – لکه نرګس چې شين يې نار سپين يې ګلونه

مخ دې ګلاپ سترګې نرګس دي – داتورو زلفو دې سنبل وشرماونه

شبنم له ګل کره ميلمه دي – نرګس له شرمه سترګي نه پورته کوينه

## رامبيل او چامبيل

د رامبيل او چامبيل ګلونه هم دهغو ګلونو له ډلي څخه دي چې شعر په بيلابيلو فورمونو کې او په ځانګړي توګه په لنډيو کې ډير ياد شوي او ستايل شوي دي . د رامبيل ګلونه سپين رنګ لري او زړه خوښونکې بوی لري . د چامبيل ګلونه هم دپورتنيو اوصافو لرونکي دي خو يوازي رنګ يې زيړ دي . دا ګلونه تر ډيره د پسرلي په موسم کې پيدا کيږي . په لنډيو کې درامبيل او چامبيل خوشبويي او دهار په بڼه تشبيه کړل شوي دي لکه:

زما جانان ګل د رامبيل دي – دسرو اميل دي زه يې په غاړه ګرځومه

ګلاپ له اصله شهزاده دي – رامبيل چامبيل يې نوکران نيولي دينه

ګوره چې ځانته غوره نشي – که ته چامبيل يې زه رامبيل خوشبو يمه )ولاړيمه(

همدار از دلنډيو له سمندر څخه يو شمير نو ګلونه هم راټولولي شو لکه دريحان ګل ،دسوسن ګل ،دکوکنار ګل ،دريدي ګل او داسې نور . چې په لنډه توګه يې يواځې دلنډيو په راوړلو سره بسنه کو.

خوشي عبث مې عمر تير شو – لکه ريدي په بيابان وررژيدمه

وړه نجلي چې شونډې سرې کا – لکه دډاک ريدي چې وسپړي ګلونه

زما جانان ګل د کوکنار دي – نصيب مې خوار دي چې مې لري ګرزوينه

زما جانان ګل دريحان دي – پاس په آسمان دي ملايکې يې بوينه

خوشي خواري راپسې مکړه – د انځير ګل يم په لاس نه درځم مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلنډيو سمندر دومره ژور او څپاند دي چې كه هرڅومره غوټې پكې ووهل شي او هرڅومره ارزښتونه ورڅخه راټول كړل شي ، بياهم كم دي خو دلته يوازې له دغه سمندر څخه ديو شمير ګلونو په راټولونه بسنه كو او ددې ليكنې لمن په لاندې لنډۍ همدلته رانغاړو.

ستا دښايست ګلونه ډير دي – څولۍ مې تنګه زه به كوم كوم ټولومه

## د پښتو لنډيو په اړه يو څو خبرې

ولايت خان ځدراڼ

ګرانو لوستونكو لنډۍ د پښتو ژبې او پښتو آدب هغه ارزښتمنه شتمنۍ ده چې د نړۍ يوه ټولنه يې هم نه لري د پښـــتنو په سيمه كې د ډير پخوا څخه ټپې ويل كيږي . دا چې ټپې يا لنډۍ ځانګړۍ شاعر نه لري او هر چا په هر وخت كې هر رنګ لنډۍ ويلې دي نو همدا لامل دى چې د ويلو او او جوړيدو نيټه يې ښكاره نه ده خو ځنې داسې لنډۍ هم شته چې په هر ځل ويلو سره يې لمړى ويونكى په ستركو كې انځوريږي د بيلږې په ډول د افغاني تاريخ ځلانده څيهرې او د ميوند د جنګ فاتحه ملالۍ هغه لنډۍ يادولى شو چې

كه په ميوند كې شهيد نه شوې - خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

كله چې دا لنډۍ دغازيانو ترغوږو ورسيده لكـه غوسـه شـوي زمريـان لـه هـرې خـوا پـه دښـمن را تــــوئ شــــول او دښـــــمن تــــــه يـــــې د شرمـــــه ډكـــــه مـــــاتي وركــــــړه. لنډۍ لكه څنګه يـې چـې نـوم دى داسـې د دوه لنـډو كرښـونه جـوړه چـې لمـړۍ كرښـه يـې تـر ۹ سـيلابو او دوهمـه كرښـه يـې اوږده او د تـر ۱۳ سـيلابو اوږده وي دا دوه كرښـې د معنـى او مفهـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اړخه پوره دي خو د وزن او قافيې لـه پلـوه نيمگـړي دي . پـه لمړۍ کرښـه کـې د موضـوع پيـل او پــــه دوهمـــــه کرښــــه کــــې يــــې پايلــــه يــــا هـــــدف معلـــــوم وي د پلټونکو په حواله د لنـډۍ ډيـره برخـه د ښـځو لخـوا ويـل شـوي ٬ کلـه چـې پـه کليـو او بانـډو کې د وادونو او نورو ښاديو پنډې جوړي شي نـو ښـځې خـو شـپې پرلپسـې تـر سـهاره ناسـتې وي سندرې او ټپې بـولي دوه ؟ يـا څـو ډلـې جـوړې شي او د يـو بـل سره مُقابلـه کـوي هـره ډلـه هڅـه کـوي چـې زر او ښـه ځـواب ووايـي دا سـيالي د سـوال او ځـواب پـه شـکل او يـا هـم د رنگارنـگ مُصرۍ په ويلو سره تر سره کيږي لاندې څو بيلګې را اخلو

سـوال ( د دې مُصرۍ ځواب مې راکړه کور مې د سيند په غاړه دی له تندې مرمه)
ځـــواب ( د دې مُصرۍ ځواب د دا دی ځوک چې مين شي اوبه خوند نه ورکوينه)
ســـــوال ( د دې مُصرۍ ځواب مې راکړه گُلی يوه مرغۍ مې دوه ويشتلي دينه )
ځــــواب ( د دې مُصرۍ ځواب د دا دی جينۍ يوه ياران يې دوه نيولي دينه )

او

( جانانه راشه چې په پخولا شو عمر د ژمي مازديگر دی تير به شينه
پيزوان مې ستا په بريت کې ښخ شو تر دروازې پورې جوړه در سره تلمه
تر مُشادۍ لونگی د جار شم په سر د ستا ده مزه ما ته راکوينه )

په همدې ډول دا لړۍ تر هغه راوانه وي تر څو چې يوه ډله پړه ومني او يا خو د سحر لمر را وخيږي کله چې په وادونو کې سندرې ويل کيږي ويونکي ډير وخت کوښښ کوي چې د هغو کسانو نومونه په لنډۍ کې ياد کړي کوم چې دوئ يې د ښادۍ په مراسو کې گډون کړی لکه لاندې مُصرۍ

( دا نن ښادي د اکبر خان ده *** صبا ښادي به د گلاب غيږې ته ورمه
د اکبر خان خوښۍ لپاره *** زه به سندرې تر صبا پورې کومه
دا نن واده د اکبر خان دی *** مبارکي به يې مور او پلار ته ورکومه )

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لرو پرتو کليو او باندو کې ځوانان په حجرو کې سره راټوليږي او سيباتونه او ميلې جوړه وي او د ټپو په ويلو سره د ژمي اوږدې شپې رڼې کوي. هغوی هم دا د لنډيو سيالي تر سره کوي او پړه ډله د بل وار راټوليدو مصارف په غاړه اخلي او د يو يا دوه چرګانو اولا خو د لاندي غوابښې په پخيدو سره د لنډيو سيالۍ ته لار جوړه وي ( له بده مرغه اوس دا ډول ناستې ډيرې کمې تر سترګو کيږي) په ځنو سيمو کې د غم په ورځ هم د وير ټپې ويل کيږي هغه داسې چې کله څوک مړ شي نو د کورنۍ غړي يې او نور خواخوږي يې په ژړا کې د غمجنو مُصرۍ په ويلو سره د زړه براس وباسي لاندې مُصرۍ ته ځير شی

ما د اوږدې لارې شميرلې *** زه د دې لنډو لارو څه خبره ومه
ما د قيامت تمه لرله *** ظالم مرګي را نه جُدا په دنيا کړينه

لنډۍ په ليکونو کې هم غټه ونډه لري دوستان 'اشنايان 'خپل خپلوان ' مسافر او عاشقان يو بل ته په خطونو کې په زړه پورې مُصرۍ ليږي دوستان د خپلې دوستۍ اظهار کوي اشنايان' خپلوان د يو بل په پيژند ګلوي او خپلوي فخر کوي ' مسافر د خپلې روغتيا ' کار او راتګ حال بايانوي او عاشقان خپلې ګيلې ' غمونه ' ناخوالې ' کړاونه ' د کليوالو او غمازانو ظلمونه او د ريبار د دوه رنګۍ څخه سر ټکونه د لنډۍ په ژبه کې ليکي. دلته يې څو مثالونه را اخلو

دوستانو يو تر بل ځاريږۍ *** ما د مجلس ياران ليدل چې خاورې شوونه
دوستانو ما ته دعا وکړۍ *** چې مې په خپل وطن کې وشي نصيبونه
زما خوارږو خوارږو دوستانو *** له تاسو بيل يمه ژوند خواند نه راکوينه
کاغذا لاړ شه په هوا شه *** په مسافر اشنا مې وايه سلامونه
سالو به حالا خپل په سر کړم *** چې د اشنا وطن کې کيږدم قدمونه
په بسم الله به د اشنا کړم *** په کليمه به د يارۍ ته راضا کړمه
اشنا زما نه مرور دی **** په څه خبره به په خولا راسره شينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه ته ما ګل د ګلاب کړې *** چې د اشنا په غیږ کې پاڼې پاڼې شمه
وطن د زیړو ګلو باغ دی *** د مسافرو په کې نه شته نصیبونه
مسافري مې کړې نه وی *** ځان مې د سیند په اوبو وړی وی مینه
روژا به تیره په سفر کړم *** اختر ته کلي ته درځم خوشاله یمه
چې خط مې درشي ور ته ژاړه *** ما چې لیکه ورته مې ډیر ژاړلي دینه
تا ته یوه کړې ما ته بله *** رویبا د خپلې یارۍ دم پکې تړینه
قلمه زر زر پرې چلیګه *** خط مې د یار په لوري ځي ناوخته شونه
چې خط مې در شي اور په بل کړه *** چې زما مینه پکې شنه لوخړه شینه
سلام د راغی ته را نه غلې *** په کار مې نه دي بې دیدنه سلامونه
کاغذ ه بخت کې تر ما ښه یې **** زما سلام دی ته به وکړې دیدنونه
خدایه دا پورې کلی وران کړې *** د دوه مینو یې ناغې تړلې دینه
تر مونږه ښکته پنجاب ښه دی *** په دوه مینو باندې نشته بندیزونه

همداسې د ساز او ټنګ ټکور په برخه کې مُصرۍ ځانګړی ځای او خوند لري د پښتو ژبې ډیرو سندرغاړو په خپلو کسیټونو او سي ډي ګانو کې په بیلابیلو طرزونو او کمپوزونو کې ټپې ویلي دي ځنې سندرغاړي مستې ټپې د مست ساز سره ځنې د اتڼیز ساز او ځنې بیا غمګینې ټپې په داسې انداز سره بللې چې نیغ په نیغه د اوریدونکي په زړه اثر کوي په سترګو کې د اوښکو چینې تاندې کوي او د ګریوان دښتې خړوبه وي.
لکه څنګه مو چې وویل ډیرو سندرغاړو ټپې ویلي دي خو د پښتو ژبې خوږ غږیې سندربول هارون بادشاه ټپو ته نوی رنګ او ښکلا ورکړه هغه د ( اول به کله کله غم وو *** اوس مې پټې شوځ کارونډې پکې کرمه) په ویلو سره په لنډیو کې نوی ساه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندۍ کړه ورورسته د ټولو د مينې ور سندرغاړی رحيم شاه دا ساه پسې اوږده او ځانګې خواره کړه او په همدې کمپوز يې په اُردو کې چې ( پهلې تو کبې کبې غم تا *** ابې هر پل مې تيرې ياد ستاتي هې) د يو ښکلي موزيک سره ټپې وويلې چې دا وخت ټپو خپل وزرونه تر هندوستان' ايران او تاجکستان پورې وغځول د هند نامتو سندرغاړي اُلتاف راجا هم ټپې زمزمه کړې او نورو دري او فارسي ژبو سندرغاړو هم د اوس لپاره همدومره......

چې پښتانه پکې اوسيږي *** زړګی مې غواړي چې پرې وشيندم ګلونه
دا اخيري مُصری د دا وي *** اخير يې مه کړې د ځوانانو مجلسونه
په مينه «« ځدراڼ »» سويډن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ا ب پ ت ټ

اب کوثر جانانه راشه
اب و دانه مې شوه تمامه
اللّٰه دې تا په چا مین کړي
اللّٰه درې ژر تیاره ماښام کړي
اباسین بیا په ځپو راغی
اباسین بیا ځپې ځپې دی
اباسین راغی غاړې غاړې
اپت وهلې کښت ته راغلم
اتې اتې زلفې دې توی شوې
اجر و جزا د عمل حق ده
احمده خدای دې جنتې که
اختر به بیا وطن ته راشي
اختر پرون ؤ پرون تېر شو
اختر پرون تېر شو عالمه
اختر په منډه منډه راغی
اختر په ټوکو ټوکو راغی
اختر په ورځ دې سینګار کړ
اختر ته ډېره خوشالېږم
اختر چې تېر شي بیا به راشي
اختر د واړو مبارک شه
اختر دې تا ته مبارک شي
اختر له تا سره ښایېږي
اختر نژدې دی روژه لاړه
اختر نژدې دی یاره راشه
اختره ستا د برکته
اخر به مرم پاتې به نه شم

د بېلتانه په سفر ځم ترې به شمه
لیلا په زړه راکړل د تورو ګوزارونه
چې تن دې روغ وي زړه دې پټ کوي دردونه
چې کچکول واخلم د یار در ته ودرېږمه
په سر یې راوړه سپینې خولې زېړ پېزوانونه
هره ځپه یې ورانوي د پګړۍ ولونه
په سر یې راوړه کشمیري د خیال شالونه
نه یې شین توب شته نه هغه خوند راکوینه
د پا غوندې په دود دې سر سپین شومه
ځوک چې د نېکو عمل کړي نېکي به وړینه
تر هندوستانه پورې تا کړي جنګونه
زړګیه تللی جانان بېرته نه راځینه
دا د دامان کوترو نن سره کړه لاسونه
د بغدادو کوترو نن راغلل سیلونه
نه مې نتکۍ شته د نه د غاړې تاویزونه
نه مې اوړۍ شته نه د غاړې تاویذونه
ځوک دې په زړه دې که ډاډه وهې ټالونه
زما دیار وعده اختر دی رابه شینه
دا د ځوانۍ عمر په بېرته نه راځینه
دا د ځوانۍ عمر په بېرته نه راځینه
چې لاس او پښې دې بې حنا اور لګوینه
نور خلک خوشې د اختر هوس کوینه
لیلا به چاته سرې منګلې ښکاروینه
مبارکي به یو وبل ته ورکوونه
د جنکو په سینه زانګې زېړ ګلونه
ته چې دا سپینه سینه ږدې په دېوالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخر به پاتې شي ميدانه
مسافر کډې باروي وطن له ځينه

اخر به خاورې شي بدنه
که دې هر څو پر وطنو وگرزومه

اخر به خاورې شي جانانه
ما اشنا سترگې نا اشنا ليدلې دينه

اخر به خاورې شي صورته
که دې هر څونه په زربفتو کې ساتمه

اخر به دا دنيا شي ورانه
تر خاورو لاندې به شي ښکلي بشرونه

اخر به کند کچکول راواخلم
چې کبرجن جانان مې نه کوي پوښتنه

اخر به مرم پاتې به نه شم
که د فولادو کلا تاو له ځانه کړمه

اخر به وران شي پېښوره
د ننگرهار نجونې ښېرا درته کوينه

اخر ته داسې درته وايم
اجازه واخله چې جوړه کابل ته ځونه

اخرنی ځای دې لحد دی
ظالمه مه کوه په ما ډېر ستمونه

اخيري ورځ ده راته گوره
بيا به د يو بل د ليدو ارمان کوونه

ادکې مورې څراغ بل کړه
د مومن خان په وينو سره شول بالښتونه

اذان په څنډ کوه طالبه
زه د جانان غېږې ته اوس ورسېدمه

ارام د زړه مې پرې و نه شو
که مې له سرو سترگو ويني تويومه

ارمان ارمان تېره ساعته
پيدا به نشې که ملنگ درپسې شمه

ارمان ارمان خپله وطنه
د خپل وطن جامې مې ولوېدې له تنه

ارمان ارمان د دا کوره
د ډکه شکوره به چاپېره تاوېدمه

ارمان ارمان دی لويه خدايه
چې همېشه مې د جانان کړای مجلسونه

ارمان به وکړې وخت به تېر وي
بيا به وطن راپسې گورې نه به يمه

ارمان به هلته زما درشي
چې سور پالنگ درته يوازې پاتې شينه

ارمان به هلته زما درشي
چې کټ مې واخلي تورو خاورو ته مې وړينه

ارمان به هلته زما درشي
چې مې څوځان په قبر وسپړي گلونه

ارمان به هلته زما درشي
چې مې د سخات پيسو ته ونيسې لاسونه

آسمانه درز وهه راولېږه
په ما قيامت دی چې په ټولو قيامت شينه

اسماني تندر شوې جانانه
په ما راپرېوتي ذرې ذرې دې کړمه

امانتي مې گور کې کېږدئ
که اشنا راشي ما به خپل کلي ته وړينه

آواز يې اورم کتی نشم
په ښاپېرو مې سر و کار دی وبه مرمه

اوبه د بر گودر خوړې دي
زه د جانان لپاره کوز گودر له ځمه

اوبه د کوز گودر خوړې دي
ليلا د يار لپاره بر گودر ته ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبه دکوز گودر خوړي دي
زه د مين د پاره بر گودر ته ځمه

اوبه دهر گودر خو ړي دي
جانانه ستا لپاره کوز گودر ته ځمه

اور چې بليږي اخر مړ شي
د مينې اور سړی تر عمره سوزوينه

اوښکي مې سيند غوندې بهيږی
بيا به د سيند د غاړی نهکوم سيلونه

اول به ته ورته حيران شې
که مې ښکاره کړه د زخمي زړگي داغونه

اول به کله کله غم و
اوس مې دوتر شو کروندې پکې کومه

اول دې ويل چې رامين شه
اوس راته وايې چې خپل کار کوه مينه

اول مې فکر درته نه و
اوس مې د زړه ستنې کړې درپسې دينه

ايمان دې ښه راته معلوم دی
په رواجي برېتو دې مه وهه لاسونه

بابا ته لاړې سوال دې وکړو
په زړه دې زه وم که دې نور کول سوالونه

بابادې ماوژلی نه دی
چې راته نيسې دزړې ولې بندونه

باباکوچيانوته مې ورکړه
چې تورپېکی مې دنښتروبادوهينه

باباگلان دباغه راوړه
زه يې پېيمه جوړومه امېلونه

بابامې نه درکوي ياره
لاړشه باباباندې مې وکړه تاويذونه

باباولي پرکندهاردی
زماجانان يې وزيارت ته تللی ونه

بابوټيکس دې ببرته واخله
زه مې شيرين جانان دکن ته نه لېږمه

بابوټيکس دې ببرته واخله
مامروراشناپخلاکړببرته ځينه

بابوکره زموږ وطن دی
جندوله تاته سلامي راغلی يمه

باتی دتېلوپه زورسوځي
ماته ديارغمونه اورشول ويې سومه

باچارخصت راکه چې ځمه
چې په وطن موغنم زېړ لويې کومه

باچاهي تخت مې په کارنه دی
جانان به لوکازه بې وړي ټولومه

باد د جنت پکي لگيږي
د غرمې خوب د شاليلا دېرې ته وړمه

باددبهی په کې لگېږي
دغرمې خوب به دليلادېرې ته وړمه

باددپغمان له لورې راغی
زمادياردزلفوبوی ماته راوړينه

باددخوتن دی راالوتی
ياعنبري زلفې جانان سنبالوينه

باددې پلوله مخه يوسه
چې گلابي مخ دې په سترگوووينمه

بادسبازماقاصد شه
زماشيرين اشناته يوسه سلامونه

بادسبايارمې وينښ نه کړې
دسهارخوب پرهلک دېرغالبه وينه

بادمې ديارله لورې راغی
په وازه خوله به يې کوگل ته تېرومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بادنن له پاسه که ښکې دی
بوی دجانان مې په دماغ ولګېدنه

باده پربادمې سلام وایه
پرهغه بادچې داشناپه لورې ځینه

باده په باد مې سلام وایه
په هغه باد چې د جانان په لورې ځینه

باده دخدای روی مې دروړی
ژرراته وایه ګران زړګی څه حال لرینه

باده دیارحالونه راوړه
ظالمان شته دي ماویارته نه پرېږدینه

باده دیارله لورې راشه
ماته ملهم شه چې مې جوړشي پرهارونه

باده سلام په جانان وایه
هغه سلام چې باده تا راوړی ؤنه

باران داوښکومې ورېږي
بې نیازه یارراته په زړه راکړل زخمونه

باران که اوري باک یې نشته
واورې دې نه اوري چې لارې بندوینه

بارانه ورو ورو واورېږه
دمسافرجانان مې نشته دالانونه

بارانه ورو، ورووپرې ورېږه
په مسافر اشنا مې نشته دالانونه

بارانه ورو، ورووپرې ورېږه
وړې، وړې جنکۍ غره ته تللي دینه

باغ ته دې تګ مناسب نه دی
ګلان شرمېږی مخ په پاڼوپټوینه

باغ چې دزاغ په حواله شي
بلبل نری فریادکوي له باغه ځینه

باغ له دې تله مناسب نه دي
پخپله ګل یې ګل دې ستاسلام کوینه

باغچه په ګلوښه ښکارېږي
لکه دپېغلې سینه ډکه په ګلونه

باغچې دګلوشوې سمسورې
باغوان وختي لښتي پر باغ تړلي دینه

باغوانه باغ مې دې خوښ نه شو
چې په کې نشته درامبېل چامبېل ګلونه

باغوانه پاڅه چې سهار دی
ګلان دتندې درته خواست داوبوکړینه

باغوانه ورشه باغ سوتره که
سبادرځمه دګلاب سیل به کومه

باڼه دې مره دي ښکته ګوري
لکه چې مور دې نوره کور کې بندوینه

باڼه دی ورو جګ کړه شیریني
ما ته دی سم د زړه په سر ټو مبلی د ینه

بدن دریاب زړه مې ګودر دی
د غم ویلی پکې رګونه تللی دینه

برستن دې واغوسته ویده شوې
په زړه دې نشته د شرین جانان غمونه

بله ډیوه شه راته کښېنه
زه دې پتنګ ستا د دیدن راغلی یمه

بنګړو دې نیمه شپه کې شرنګ کړو
زه دې بهر تمبو ته لاس په نامه شومه

بنګړي نیم ښکته کړه نیم پورته
چې په خالي مړوند دې سر ولګومه

بوټې راټول کړئ اور پرې بل کړئ
زموږ دستور دی په ربا خوله ورکوونه

بورا به خدای په ګلو موږ کا
باغوانه ستا نیمګړی نیت مې ژړوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به پدې کلي رانشم
د کلي مینځ د لېونۍ ورسېدنه

بیا به د کلي په منځ نه ځم
د کلي منځ  دلېونۍ ورسېدنه

بیا به دیار کلي ته نه ځم
په خندا لاړ شم په ژړا بېرته راځمه

بیا به دې نوم په خوله وانخلم
بېگاه دې مور له دروازې شړلی یمه

بیا به نرۍ جامې ونکړم
باران لمده کړم اشنا ټوله ولیدمه

بېلتونه چیرته چې ځې لاړ شه
گودر ته مه ځه چې بې تا پاتی شینه

بې غېر له تا مې عمر گران دی
زه به دا گران عمر تر کومه تېرومه

بې ننگه ننگ راباندې وکړه
سبا مې ستا په سر پانسۍ ته خېژوینه

بې وفا هله راته وایه
چې ته لوگی شې زه لمبه نه شم مینه

بېگا مې مړ په خوب لیدلی
سبا مې سرو شونډو پتري نیولي وونه

بېگاه په خوب کې ژړا راغله
د مینې یار مې در په در غواړي خیرونه

بېلتون په هر چا مېلمه کیږي
ماته چې راشي نو کلونه تېروینه

بېلتون د خلکو د خندا کړم
ځکه هر وخت گرېوان شلېدلی گرځومه

بېلتون دې قدر رامعلوم کړ
اوس به سلام په دوه لاسه درته کومه

بېلتون یواځې په ما ندی
بېلتون شمال دی هره پاڼه رپوینه

بېلتون یوازې په ما ندی
د بېلتانه د لاسه ډېر فریاد کوینه

بېلتونه راشه سترۍ مه شې
زړه مې پښتون دی مېلمه نه خفه کوینه

بېلتونه کور دې راته ښایه
د زور دې نه یم ننواتې به درځمه

بیا به منگی ته گو تی نه کړم
مور د گودر د تلو نه ما منعه کوینه

پاچائي تخت مې په کار نه دی
جانان دې لوکړي زهبه وړې ټولومه

پاچائي تخت مې په کارنه دی
مادې دیارله خنگه نه جداکوینه

پاس پراسمان راشه رامداره
داسمې لارې راڼېزونیولې دینه

پاس پراوړودې منگی مات شه
چې دسینې په خوړ دې راشي سېلابونه

پاس پربام مه خېژه کوترې
پورته اسمان کې به شین لمرشرمنده شینه

پاس په کمره ولاړه گله
نصیب د چا یې اوبه زه درخېژومه

پاس په گودر د پیغلو جنگ شو
د سور سالو میر منې ما تې گډوینه

پاس په گودر ولاړه گله
یا به دې راوړم یا به مړ درپسې شمه

پاس په گودر ولاړې گله
نصیب د چا یې او به زه در خیژومه

پاس په هوا راشه جانانه
لارې کوڅې د غمازانو ډکې دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاس په هوا راشه جانانه
د گودر لاري راڼيزو نيولی دينه

پاس په اسمان کې ډزې وشوې
چاويل ملوک دی دبدری سلام ته ځينه

پاس په اسمان کې ستوري ښکاري
اشناويده دی مايې وکړل ديدنونه

پاس په اسمان کې ستوری زه وای
نجلی وېده وای مايې وکړای ديدنونه

پاس په اسمان کې ګرزهارشو
جينکی ژاړي کشمالې ړای وهينه

پاس په اسمان کې مرحباشوه
محمدوخوت داللّٰه ديدارته ځينه

پاس په بلی کوترې راغلې
زه په پوړوديارپوښتنه ترې کومه

پاس په بنګله کې فريادخېژې
يارنځوران دي يامين ببل شوي دينه

پاس په تيرااوره بارانه
دپېښورپه برخه سېل دی رابه شينه

پاس په سينه ځای راته جوړکه
مزل وهلې ځمکه ځای نه راکوينه

پاس په کمره ولاړه ګله
نصيب دچاپې اوبه زه درخېژومه

پاس په کمره ولاړې زرکې
بازمې رنځوردی له خولې وينې تويوينه

پاس په ګودردپېغلوجنګ شو
دسورسالومېرمنې ماتې ګډوينه

پاس په هواراشه جانانه
داکوزې لارې ببلتانه نيولې دينه

پاس د آسمان ستورو ته ګوره
په تا مې دومره دي د سپينې خولې پورونه

پاس داسمان ستوروته ګوره
پرتامې دومره دي دسپينې خولې پورونه

پاکه مولا که ته يې واخلې
سړی سړی نه دی په بند يې ناسته يمه

پالنګ دسرونالی دزرو
ليلادسروزروغنچه خوب په کوينه

پالنګ ديارسره ښه ښکاري
نه مې خوښېږي دابې ياره پالنګونه

پام کوه واردې خطانه شې
دګلوځانګه دې پرسرولاړه يمه

پانسی دزلفوماته راکړه
زه ببلتانه په مرګ خوشاله کړم مينه

پاولی ديخ سينه دې تخت دی
چې درنژدې شم زړه مې يخ لاندې کوينه

پتنګ په خاص څراغ مين دی
ښايسته خولمردی ځان پرې نه کبابوينه

پتنګ خويوځل شهيدشوی
افرين ماته چې مدام سوزم مينه

پتنګه خاورې دې په سرشوې
شموته جوړشوه په ښيښوکې مقامونه

پتې په منځ دبازارراغی
شمعې مخ پټ کړويلې نه دې پېژنمه

پتې له شمعې په څنګ نه ځې
زه به ديارله غمه ولې پرځنګ ځمه

پتې له ما نه زده کړه وکړه
ځکه خپاره وزرونه شمعې له ورځينه

پتنه راشه که پرې سوځې
ستاداجل شمعه په لاس کې ګرځومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېټ به دزړه دردونه تېر کړم
بې درده یارته به ونه وایم حالونه

پېټ به دیار له غمه ژاړم
پټې به وینې لړمانه ته تېرومه

پېټ به دیار له غمه ژاړم
چې مې په درد ظالم خبر نه شي مینه

پېټ د گودر په غاړه کینه
چې یاره پېټ په پېټ وکړو دیدنونه

پېټ کرمونه درب ډېر دي
جانان ته وایه وارخطانه شې مینه

پېټکی دې کوږ په وریځو کېده
زه د همزولو په کتار کې ناسته یمه

پخوا به کله کله غم وو
اوس د غمونو قافلې راسره ځینه

پر گودر څه بلا لگیږی
چې کشر ورو یې بدرگه ورسره ځینه

پر گودر گڼي ونی کیږده
چې شا لیلا منگی په سوری ډکو ینه

پر گودر نښه راته کیږده
د ما زد یگر اوبو له ځم وا به یې خلمه

پردېس ځوانانو سره خوند کړي
چې جنکۍ په سفر ځي ارمان راځینه

پرگودر سپینه سینه اوړی
په لاره تیر یدم ودی ویشتمه

پرگودر سور سالو ښکاره شو
ماوې دی تورو اوبو اورواخیسته مینه

پرهر پرهر په توره راشې
چې پرهرونه دې گنډم خوله درکومه

پرېږده چې خړ سېلاب مې یوسي
په لامبوزن اشنا مې ډېره نازیدمه

پرېږده چې سپي مې غوښې وخوري
بې وفا یاره در په در دې لټومه

پرېږده چې سرو وینو کې رنگ شمه
د نیمې شپې له دیدن نه کراریدمه

پلار یې د بر کلي ملک دی
لور یې د کوز کلي منگي راډکوینه

پلاریې دبر کلی ملک دی
لور یې د کوز کلی منگی راډکو ینه

په ا خرت به لالی غواړم
په دې دنیا یې ظالمان نه راکوینه

په اخرت کې به ناري کړم
چې ناداني وه په گناه نه پوهېدمه

په اوښکو لوند گرېوان مې گوره
ستا له پېغوره مو رپه کور بند کړی یمه

په باغ کې سرې غوټۍ ته وایه
چې تاته تور کشمالي ډېر سلام کوینه

په بام ولاړه یمه زنگېږم
د خوبه نه یم د یار غم غلطومه

په بل وطن کې پیدا نشوې
د نارنج گله ننگرهار ته به درځمه

په بنگو چرسو مې کار نشته
چې د جانان په کوڅه تېر شم نشه شمه

په پتاسو دې اموخته کړم
اوس د جوارو ډوډۍ خوند نه راکوینه

په تصور مې ځان پاچا کړ
چې سر مې جگ کړلو گدا د دونیا ومه

په تن مې تور چینجي لگیا شول
زړه تربېنه ساتم پکې ستا مینه لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تناره مه ورغوړېږه
د وربل څوکې به دې اور وسوزینه

په تور لحد کې به ناري کړم
زه د دنیا نه ارمانجن راغلي یمه

په تورو ټوک ټوک شي مړ مشې
چې پرهرونه دې ګنډم خوله درکومه

په تورو سترګو یې شهید کړم
توري جنډې راباندې ودروئ مینه

په تُهمت مه شرمېږه یاره
په ښو ځوانانو پسې تل وي تُهمتونه

په جدایۍ دې خفه نه یم
خفه پدې یم چې رقیب دې خپلوینه

په جهان دوه څیزه مزه کا
یا سپینه خوله یا د بوړي توپک غږونه

په څه خفه په څه جدا شوې
اوس راته وایه چې توبه ترې اوباسمه

په خوله به جنګ درسره وکړم
د زړه کوڅې به درنه ولې بېلومه

په خوله به جنګ درسره وکړم
د زړه کوڅې درځنې کله بیلومه

په خوله به جنګ درسره وکړم
د سترګو لاندې به زارۍ درته کومه

په خولې توبې توبې اوباسم
په تا مین زړګی توبې نه قبلوینه

په دا یوه خبر خوشحال یم
چې خان غریب به ټول یوې خاورې ته ځینه

په داسې خلکودې بدل کړم
چې دعزت سرمایه بالکل نه لرینه

په دیواله مې سر اوچت کړو
جنۍ لګیا ده ځانله سترګې توروینه

په زړه به لویه تیګه کېږدم
جانانه تانه به یې ورو ورو صبرومه

په زړه دې ډېر داغونه راکړل
ستا دجفا کیسې به چا چا ته کومه

په زړه مې غر دګیلو پروت دی
هله به یې وایم زه دې سر په زنګون ږدمه

په زنکدن دې ژبه بند شه
ماته دې ټول عمر دروغ ویلي دینه

په زنکدن کې مې رانغلې
د جنازې لاندې مې مه ځه مخ تورنه

په زنکدن مې راحاضر شه
بیا تر قیامته پورې نشته دیدنونه

په زنکدن مې راحاضر شه
چې په سلګو کې سترګې تاته واړومه

په زیارتونو به جوړ نه شم
ما به د سپینې خولې ازاد اخیستی وینه

په ژړا هغه خلک ژاړې
چې د محفل یاران یې تورې خاورې شینه

په سپینه ږیره راپسې شوې
رب خو دې مړ کړه د لمسی په ځای دې یمه

په سر دې کوم غماز ولاړ دی
چې دې زما غریب یارۍ ته نه پرېږدینه

په سور سالو کې ګناه نشته
ګناه نجلۍ کې ده چې ړنګه بنګه ځینه

په صبر صبر پوره نشوه
سبا مې نیت دې بې صبرۍ ته ملا تړمه

په صورت روغ درته ښکارېږم
لکه غنم د زړه په سر چاودلی یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غټو سترګو دې مين شوم
ځکه مې غټې غټې اوښکې په مخ ځينه

په غم کې ستانه کمه نه يم
لېونۍ نه يم چې به کلي خبرومه

په کټ کې سمه شه ځای راکړه
لکه لړم په دېوالو رااوښتی يمه

په کشمالو کې مې حلال کړئ
چې جنازه مې ښاپيري اوچتوينه

په کوځه تېر شوم ګناهګار شوم
شړنګار يې خيږي زولنې راته راوړينه

په کوژدن شوې مئين مه شې
ته به ولاړ يې دا به بل ته ودوينه

په ګودر سور سالو ښکاره شو
ما ويل دې سپينو اوبو اور واخيست مينه

په ګودر څه ټکه لو يدلی
چې کشره خور يې بدرګه ورسره ځينه

په ګودر سور سالو ښکاره شو
ما وېل دا سپينو اوبو اور واخيست مينه

په ګودر سور سالو ښکاره شو
چاوې سالو دی وچاوې اور ولګيده

په لاره تلې کړه وړه شوې
د ډېره خاله دې زېړ ګل وشرماونه

په لاره تلې مخ دې راستون کړو
د ظالم لورې په ګولی دې وويشتمه

په لښتې ټوپ کړه بيا راټوپ کړه
چې د اوربل روپۍ دې ګډې وډې کړمه

په لوی ګودر دی ښځې پرې ولی
په نرۍ بادی يې وچوی مين دی کړمه

په ما دې ټول کلی خبر کړ
په تا دې يو دا دا خبر دی زړه دې چوينه

په ما دې ځوانه ځواني اور کړه
په تا دې اور شي د همزولو مجلسونه

په ما دې کړې څه بلا ده
چې دې د در خاورې په جېب کې ګرځومه

په مخ دې شړک د زلفو راکړو
ځکه مې اوښکې د ملالو سترګو ځينه

په مرګ به دواړه سره مړه شو
ارمان مې دا دی چې به وړاندې وروسته شونه

په مرګ به مړ راپسې نشې
دا لباسي اوښکې د هر چا په مخ ځينه

په مرګ به مرم پاتې به نشم
ګور ته به يوسم ستا رټلي ځوابونه

په مرګ دې نه مرې جانان خوږ دی
په رنځ دې پرېوزې چې پوښتنې له ی ورځمه

په مسافرو مې زړه نه سوو
اوس مې پرې سيزې چې مې يار مسافر شونه

په ناعلاجه مرض پروت يم
په اشنا دوه قدمه ګران دې نه راځينه

په نيمه شپه دې ببرې راوړې
ببرې دې نه خورم ما توتان خوړلي دينه

په نيمه شپه راشه جانانه
د زړه تمبې مې نيمکښو پرې ايښي دينه

په وينو سور لکه ګلاب شه
پښتني ناوې به دې تور اوربل کې ږدينه

په يار مې ترخې زرغونې شوې
زه يې د ديدن په تمه يم چې رابه شينه

په يارانه دې پويه نه شم
په جدايۍ دې لکه مالګه اوبه شومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیزوان په کورمه کې جوړیږي
د پېښور زرګره مات دې زه لاسونه

پېزوان مې ستا برېتو کې بند شو
تر دروازې پورې جوړه درسره تلمه

پېزوانه ستا نه ګیله من یم
د لیلا سرې شونډې خو تا ښکل کړې دینه

پېزوانه کوز شه اوبه وڅښه
سبا اختر دی په سرو شونډو به دې وږمه

پېغلتوب نیمه پاچاهي وي
ورک ناویتوب شه چې دوه نیمې ورځې وینه

پیغله ګودر ته روانیږی
زړه یې منجله کړو پری منګی راوړی مینه

تا به په سرو وینو کې پرېدي
ما ژړوي د معشوقو دغه ظلمونه

تا چې په مخ څپېړه راکړه
د دلاسې سږی مې نشته وبه مرمه

تاسی دی بر ګودر ته ګوری
د بیغلو جنګدی منګو ټی ګذاره وینه

تپه تیاره ده نه دې وینم
بنګړو ته شرنګ ورکړه چې ودې پېژمه

تر هدیرې راسره لاړ شه
د جنازې بازو مې پرې نه دې مینه

تردې پوړې ټوپک دې ځار شم
په غاړه ستا دی کړه زه درسره ځمه

تکل به کله د راتلو کړې
زه دې د لارې څوکیداره ناسته یمه

تنور چې تود شي اخیر سوړ شي
زړه چې مئین شي همیشه لمبې وهینه

تورو ته سپین خلک پیدا دي
ځکه د سترګو تور د سترګو مینځ کې دینه

توره به نه کړې نو به څه کړې
چې دې شېدې د پښتنې رودلي دینه

ته بې وفا شوې زه دې هېر کړم
زه بې وفا نه یم چې تابه هېرومه

ته چې په ما پورې خندا کړې
خدای دې مئین کړه چې زما د خندا شینه

ته چې زما د یارۍ نه وې
زما ویده زړګی دې ولې ویښونه

ته چې زما قبر ته راشې
زه به په قبر کې اشنا خوشاله شمه

ته د کوهاټ په غاښي راشه
زه دره وال ټوپک په غاړه ګرځومه

ته د ګودر غاړی ته راشه
ما په منګی کې پراټی راوړی دینه

ته ماز دیګر ګودر ته راشه
په ګودر کیږی په اسانه دیدنونه

ته ماز دیګر ګودر ته راشه
زه به منګی په لپو ورو ورو ډکو مه

ټبر دې ټول راباندې ګران دی
زه ستا لپاره د وړو سلام کوومه

ټکرې د ځان پسې راکاږې
خاونده خدایه مېلمنه به د چا وینه

ټګي دې وکړه ټکه یاره
ستا دې ټګي زما دې صبر په خدای وینه

ټنګه وعده راسره وکړه
د جنکو په وعده نه شته اتبارونه

ټوپک ویشلی به خدای جوړ کړي
سترګو ویشتلی به رنځیږي مړ به شینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوټې ، ټوټې په تورو راشې
د بې ننګۍ آواز دې رامشه مينه

ټوټې ټوټې دربانديې زه شوم
په بخملې سينه دې نور کوي خوبونه

ټوټې ټوټې زړه به راټول کړم
بيا به په نوم د يارانې سرې رټمه

ټول مې د زړه په سر راټول شوې
ميرات شې غمه په خندا دې تېرومه

ټيکرى د ځان پسې راکاږي
خاونده خدايه مېلمنه به د چا وينه

## ج چ څ ځ خ

جانان په هيڅ نه رضا کيږي
د دروغجن ملا دې ورک شي تعويذونه

جانان زما زه د جانان يم
که په بازار مې خرڅوي ورسره ځمه

جانان زما سره پښتو کړي
چې سترګې توري کړي لکۍ ورته پرېږدينه

جانان مې ستورى د اسمان دى
نه ورختى شم نه مې زړه صبر کوينه

جانان مې لاړو اسماني شو
اسمان چې ځمکې ته راځي قيامت به وينه

جانانه تور څادر په سر کړه
ځان مرور کړه چې جرګه درولېږمه

جانانه ته خو داسې نه وې
د چا خبرې دې ضرور منلي دينه

جانانه ته خوداسې نه وې
ښايي جوارې دې دبل چاخوړلي دينه

جانانه خپل وطن ته راشه
پردى وطن د مېړو قدر کموينه

جانانه خپل وطن ته راشه
په دالانونو کې دې لګي خړ بادونه

جانانه خپل وطن ته راشه
غمازان ستا په جدايۍ اختر کوينه

جانانه خپل وطن ته راشه
که خلک ډېر دي پرې اباد دي خپل کورونه

جانانه دومره په ما ګران يې
چې ته روان يې زه دې شمارم قدمونه

جانانه دومره را سره واي
لکه بر يښنا چې د با رانه سره وينه

جانانه راشه چې پخلا شو
زمونږه څوک دي چې به مونږ پخلا کوينه

جانانه راشه چې پخلا شو
عمر د ژمې مازديګر دى تېر به شينه

جانانه راشه دا دى وخت دى
پلار مې د سر سودا د بل سره کوينه

جانانه راشه که ديدن کړي
د زنکدن خولې په ما راغلي دينه

جانانه راشه که راتلى شې
ښکلى بشر مې په کفن کې پټوينه

جانانه زېرى مې دربانديې
زمونږه کډه ستاسې کلي ته درځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانانه ستا د زړه لپاره
زه په غرمه د ګودر غاړې له درځمه

جانانه ستا دیدن لپاره
زه په زړه شپاله کې ببرې ټولومه

جانانه ستا دیدن لپاره
زه د کابله په ټکس راغلی یمه

جانانه غلی غلی ګورې
یا دې څه ورک دي یا دې زه لیدلې یمه

جانانه غم دې دومره خوړ دی
چې د دنیا خواږه یې خاورې ایرې کړنه

جانانه فکر پکې وکړه
مینه سور اور دی وارخطا نشې مینه

جانانه ولې لېونی شوې
په لاره ځې په تیګو ولې زیارتونه

جانانه ویښ یې که ویده یې
ستا په کوڅه مې لاس ترلی تېروینه

جدایي راغله لارې دوه شوې
مرګ مې قبول دی جدایي نه قبلومه

جنۍ د پلاره دی ویر یرم
ګودر ته راشه کور ته نه درسره ځمه

ځان په ازغوباندې سوری کړه
که چېرې غواړې دیارغېږه کې خوبونه

ځان د وطن په شمع سیزه
چې پتنګان دې د زیارت طواف کوینه

ځان دې زما په دیدن موړ کړه
بیا به مخ په سپین کفن کې پټوینه

ځان یې زړو جامو کې جوړ کړو
لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وینه

ځای د داغلو په کې نشته
جانانه څله داغوې داغلي زړونه

چا یې پلو لیدلی نه و
اوس د تورخم په سرک ځي سرتور سرونه

چرګه مرۍ کې ناسور شه
زه د لیلا غېږې ته اوس راغلی یمه

چنار به ولې سر لوړ نه کا
چې جنکۍ ورلاندې سترګې توروینه

چې په ژوندون مې په کار نشوئ
که مې د قبر مجناور شې څه دې کړمه

چې په ښایست مې خفه کیږې
نور به د ځمکې خوب کوم چې ژېړه شمه

چې په مرض مې نه پوهېږې
طبیبه مه ګوه زما د لاس رګونه

چې پېغله لور یې په کاله وي
پس د ماښامه دې پنځېزی ګرځوینه

چې پېغله لور یې په کاله وي
د هغه کور سابه جواری مزه کوینه

چې تاته ګورم ژړا راشي
چې ځانته ګورم په ما لا ډېر دي غمونه

چې تورو خاورو ته مې سپاري
په خولې مې کېږده د سورکو شونډو سرونه

چې توره نکړې نو به څه کړې
چې دې شېدې د پښتنې رودلې دینه

چې جنازه مې روانیږي
پاس په کفن باندې مې وشینده ګلونه

چې چېرته ته وای هلته زه وای
نصیب تقدیر مې له تا لرې ګرځوینه

چې څوک له خپله ځانه دروندوي
ټولې دنیاته ددراندۀ ګومان کوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خط مې وايي ورته ژاړه
ماچې ليکه ورته مې ډېرژړلې دينه

چې خويندې کښېنې وروڼه ستايي
چې وروڼه کښېنې خويندې بل ته ورکوينه

چې د ديدن نصيب يې نه وي
په يوه کوځه کې سره وړاندې وروسته شينه

چې راپسې نشي قرانه
زه د جانان لپاره لاس درباندې ږدمه

چې ژوندون وي جانان به راشي
چې ژوندون نه وي بيابه نه وي ديدنونه

چې سا مې اوځي رانږدې شه
په دواړو سترګو راته کيده سره لاسونه

چې سترګې تورې کړم شرميږم
چې شونډې سرې کړم غمازان مې نه پرېږدينه

چې سر زما وي ځنګل ستا وي
د هغه وخت په انتظار يم رابه شينه

چې سر زما وي ځنګل ستا وي
مزه به دا وي چې ويده د عمر شمه

چې سړی هر څومره پښتون شي
زړه چې مئين شي پښتو ټوله ترېنه ځينه

چې سور پرتوګ دې وکړو
نور يې زمونږ دکلي منع کړه چې مرمه

چې عاشقي يې کړې نه وي
د پادې خر دی سبا ځي بېګا راځينه

چې عاشقي يې کړې نه وي
هغه به ځنګه د ايمان دعوه کوينه

چې فکر بند په زولنو کړم
چې رانه خلاص شي برابر جانان له ځينه

چې کله کله راپه ياد شې
دېوال ته کېنم ځانته غلی وژاړمه

چې کلي واله مې ګنلې
ځکه مې سوال د سپينې خولې درته کاونه

چې ماز د يګر شی زړه مې ښه شی
په ګودر حوړ شی د منګيو کتارونه

چې مازد يګر شی عاشقان ژاړي
چېته له خياله منګی وړی په ګودرونه

چې مې په جېب کې دولت ډېر و
خپل مې لا څه چې د پردو خپل شوی وم

چې مې د تورو سترګو وار و
د چا به کار و چابه هسې غږ کوونه

چې وعده وکړې پوره يې نکړې
ژبه يې پرې کړې چې وعدې پرې نه کوينه

چې وي پښتون اوپښتونکړي
داسې کسانوته به ګورې کړنګونه

چې هديره باندې تيرېږې
زما مزار ته مخ راواړوه مينه

چې يوړم يوړم اوبو يوړم
چې بې ګودره ګډ يدم اوبو به وړمه

چېرته عاشق سړی ولاړ دی
ساړه ساړه اسويلي کړي باد يې راوړينه

څانګه به نن سبا کې ګل شي
ما يې په سر کې سرې غوټۍ ليدلي دينه

ځنګ ته مې مه راځه جانانه
سبا به بوی د لونګين درځخه ځينه

ځنګه په سپينه جامه ګرځې
رب دې مئين کړه چې خيرن دې ووينمه

ځنګه د ورايه په خندا شوې
لکه چې غم دې د زړه ټول هېر کړی وينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنګه نرۍ یې لکه لښته
مور دې ړنده شه چې په تا اوبه راوړینه

څوک په رضا له ملکه نه ځي
یا ډېر غریب شي یا د یار له غمه ځینه

څوک چې په چا باندې مین شي
هغه غمجن شي د هر چا د خندا شینه

څوک چې په شنو سترګو مین شي
پس د ماښامه دې پنځېزی ګرځوینه

څوک چې د ښکلو وفا غواړي
ماته کیسه د صنوبر رایاده شینه

څوک چې د یار په غېږ کې پروت وي
په نورو خلکو د ړندو ګومان کوینه

څوک مې د حاله خبر نه دی
لکه چنار مې په ډډ اور ولګېدنه

خا ونده دا ګناه مې معاف کړی
بیا به دخوړ په عاړه نه کرم ګلونه

خال به د یار له وینو کیدم
چې په شین باغ کې ګل ګلاب وشرموینه

خال یې په غونډه زنه کېده
بیا ما ورپرېده چې پرې څه نخرې کومه

خاورې د یار د کوڅې راوړئ
پاس په کفن کې ( لا اله) راته لیکینه

خاونده بیا دې پسرلی کړو
جونه شفتل کړي وړکي سیل ته تللي دینه

خاونده بیادی مازد یګر کړ
په ګودر جوړشو دمنګیو کتارونه

خاونده ټوله مې ترې ځار کړې
زما په سر یې غرغرې منلي دینه

خاونده څه چارې راوشوې
نه مې یار یار شو نه یې خلاص د غمه شومه

خاونده دا به دې رضا وي
چې د ځوانی عمر په غم کې تېرومه

خاونده دا به دې رضا وي
چې نور دې ګل کړل زه غوټۍ ورژېدمه

خاونده دا به ستا رضاوي
چې دځوانی عمر په غم کې تیرومه

خاونده دا ګناه مې معاف کړې
بیا به د خوړ په غاړه نه کرم ګلونه

خاونده سل ځله ژوندراکړې
چې دجانان په مینه سل ځله مړشمه

خاونده کوم یو پکې خوښ کړم
مرګ او بېلتون راته جوړه راغلي دینه

خاونده ما خو داسې نه وېل
چې مساپر شم څوک دې خیر نه راکوینه

خاونده ما د ګودر ګل کړې
چې جنګی مې شوکوي سر کې مې ږدینه

خاونده ما دګودر ګل کړی
چې جنګي مې شوکوی سرکې مې ږد ینه

خاونده مرګ په ځوانی ورکړې
چې جنازه یې د ارمانه سره وړینه

خاونده مرګ په ځوانی ورکړې
چې کلی کور یې د ځوانی ارمان کوینه

خبر مې کله کله اخله
د لېونتوب آواز مې نن سبا درځینه

خپلو جامو سره مې خښ کړئ
جانان په غشو د بنو ویشتلی یمه

خدایه د مور یې ورته پام کړې
چې په لنډۍ زنه یې ووهي خالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه دا مور یې لېونۍ کړې
مئین پرې زه یم اوس یې بل ته ورکوینه

خدایه کوچیان په کوچ روان کړې
چې دا ښایسته بدرنګې ګډې وډې شینه

خدایه ګورګورې تورې مه کړې
جنکۍ سرې شونډې ورځې تورې راوړینه

خدایه مئین څوک په چا مه کړې
چې وس یې نه رسي په مخ یې اوښکې ځینه

خدایه نرۍ نرۍ باران کړې
چې د لیلا ګډې ترلې پاتې شینه

خدای به دې بیا راته محتاج کړي
زومبک زومبک څنې مې بیا راغلي دینه

خدای به دې زلفې په لاس راکړي
ماته د کلي ماشومان دوعا کوینه

خدای به مو بیا سره یو ځای کړي
دسمال راواخله اوښکې پاکې کړه مینه

خدای په ورې جلکۍ مئین کړم
د کوټنو ګټې په ما راچلوینه

خدای خو دې دا ځلې راجوړ کړه
بیا مې توبه ده ښېرې نه درته کومه

خدای خو دې دا ځلې راجوړ کړه
خلک به وایي چې سپېره دی یار یې مرینه

خدای دې په تنګه کوځه راکړه
چې د سینې روپۍ دې ګډې وډې کړمه

خدای دې په داسې ځای کې راکړه
چې ته ناري کړې زه دې غېږ کې ټینګومه

خدای دې په سر منګۍ ټوټې کړه
چې په اوږدو زلفو دې راشي سېلابونه

خدای دې په واورو کې ایسار کړه
چې د تودې غېږې مې درشي ارمانونه

خدای دې د پوزې پېزوان مات کړه
چې د زرګر په دوکان دواړه یو ځای شونه

خدای دې د خولې لاړې دارو کړه
زه درتلی نشم بس دوعا درته کوومه

خدای دې زما کړه غونډې منډې
په سر به پنډې چلوم تابه ساتمه

خط مې لیکو قلم مې مات شو
د جانان نوم رانه نیمګړی پاتې شونه

خلک به وایي چې وړه ده
وړې زما په زړه چړې منډلي دینه

خلک تپوس له د رنځور ځي
زه چې رنځور شم د جانان تپوس وړمه

خلک چارګل خونړی بولي
ما د نتکۍ په ډنډر ډېر وژلي دینه

خلک دې وایي تُهمتونه
زه د لیلا په غېږ کې چا لیدلی یمه

خلک زیارت له پتاسې وړي
زه د جانان لپاره غونډه روپۍ وړمه

خلک شراب وڅښي نشه شي
ما د لیلا د لاس اوبه نشه کوینه

خلک قیامت ته خفه کیږي
زه خوشالېږم چې جانان به ووینمه

خلک له غمه امان غواړي
زه د جانان په غم کې ډوب خوشاله یمه

خلک مې ټول تپوس له راغله
هغه رانغلو چې یې پروت له غمه یمه

خلکو زړې یارۍ تازه کړې
زما په نوي یارۍ اور ولګېدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکه ګودرګوري ګډيږی
زه بې ګودره ګډيدمه لا هو شومه

خمارو سترګو ته دې وايه
چې مې ماشوم زړګی نور نه ازاروينه شي

خندا کوې ياري دې نشته
تشه خندا د لباسې جنکو وينه

خود به يې زه د در ملنګ يم
چې سپينه خوله راته خيرات کې راکوينه

خولګۍ دې خورم نه پرې مړېږم
نامردې تا پکې ګني کرلي دينه

خولګۍ دې خورم نه پرې مړېږم
نامرې ټوله راپشا شه چې دې وړمه

خولګۍ مې خوره څو يې خوړای شې
شکره نه ده چې په تول به کمه شينه

خوله به په زوره درنه واخلم
وړوکی نه يم چې ځاري درته کومه

خوله به تر شونډو لاندې درکړم
په تورو غاښو مې لونګ کرلي دينه

خوله به د خدای په رضا درکړم
منګۍ مې ولی ښوروی لنده دې کړمه

خوله د ډېوې رڼا کې راکړه
په توره شپه کې دې زلفان خولي له راځينه

خوله د ملا د لور خوږه وي
د شکرانې چرګان يې ټول خوړلي وينه

خوله دې د تريو انار دانه ده
د رنځورانو قافلې درپسې ځينه

خوله دې د سپينو زرو جام دی
زما پرې پام دی چې موزي پرې اوبه څښينه

خوله مې غوښته ژبه يې راکړه
خدايه سخي نجلۍ ته ورکړې جنتونه

خولې ته مې سوړ اوسېلی راغی
زړګيه بيا به دې جانان ياد شوی وينه

## د ډ

د اباسين څپې دې يوسه
چې مور دې شګې لټوي پلار دې خوړونه

د اسری منګولې نری غاړه
ګودر ته لاړه دچا ژوند خرابوينه

د اواړه ستا د زړه لپاره
چې د همزولو نه جدا ګودر له ځمه

د اوبو غرپ کولی نشم
په زړه مې ستا د مينې ليک دی وران به شينه

د بې وفا جانان د لاسه
د زړه دپاسه مې پولۍ ولاړې دينه

د بې وفا نامه دې راکړه
تا څه ليدلي دي زما په زړه داغونه

د تور لحد نه مې زړه بد دی
ځوانان ايسار کړي پالنګ تش کور ته ليږينه

د تورو زلفو په ځنګل کې
يار په منګول کې ګرځوم چې ورک به شينه

د تورو سترګو ديدن راکړه
راباندې جوړ کړه بيا د خاورو امبارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټپو وار راسره کېده
ماته بې واره ټپې خوند نه راکوینه

د ټپې وار دربانديې راغی
شفتل خورکه رنگ دې زېړ وتښتېدینه

د ټولو بدو به توبه کړم
جانانه ستا دمینې نه توبه کومه

د جانان ژبې ته حیران یم
څومره خوږې پستې خبرې پرې کوینه

د جانان غم زما سایه ده
چې چېرته ځم زما نه مخکې وروسته ځینه

د جانان مرگ راته اسان دی
چې دی ولاړ وي زه به بل ته وخاندمه

د جلا لا گودره وران شي
په جنکودې سا لنډۍ ولگاو نه

د جنازې بازو مې نیسه
چېرته به ما په راستې خوله درکړې وینه

د جنکو کاپرې سترگې
لوگی بهانه کړي ژړا یار پسې کوینه

د جنۍ ځانگې وانگې ونه
ربه زمونږ په کور یې راولې خاښونه

د چا به شنې سترگې خوښیږي
څوک به په تورو سترگو ځان قربانوینه

د خپل وطنه به دې ورک کړم
ما په ملالو سترگو ډیر ورک کړي دینه

د خولې مې تورې وینې لاړې
زه د هجران ښامار په زړه خوړلی یمه

د ډاره غږ کولی نشمه
د سوال یاري ده اوس به گډه وډه شینه

د روغیدو تمه مې نه شته
جانان په غشو د بڼو ویشتلی یمه

د ریبارانو ځای جنت دی
خدایه زما ریبار له ورکړې دوزخونه

د ریبارانو ځای دوزخ دی
خدایه زما ریبار له ورکړې جنتونه

د زړگي سره ناچاري ده
مین په تا یم ناز د ډیرو خلکو وړمه

د زړه دپاسه مې امبار شه
د جانان غمه د عمرونو ځای دې یمه

د زلزلې پشانتې راغلی
زه دې محفل کې د خبرو وویستمه

د زلفو تار مې اوبو دروړو
په غم شر یکه مینه نیسه گودرونه

د سپینې خولې قیمت دې وایه
که سر پرې درکړم باقي دار به څومره شمه

د سپینې خولې یاران دې نور دي
شفتلو پنډو ته دې زه نیولی یمه

د سترگو جنگ دی ورته ټینگ شه
کاږه واږه باڼه په زړه ویشتل کوینه

د سور سالو مېرمن ته وایه
نور دې د ژوبلو زړگو نه اخلي ازارونه

د طالبانو دا عادت دی
د وظیفې سره مې گوتې تاووینه

د غرغرې میدان ته راشه
سبا مې ستا په تهمت دار ته خېژوینه

د غرور جام به دې نسکور شي
په عاشقانو باندې مه کوه ظلمونه

د فکر ټال دې راته جوړ کړو
ته رانه لاړې زه یوازې زنگېدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کبرجن جانان د لاسه
د زړه دپاسه مې پولۍ ولاړې دینه

د کشمالو منجیله وکړه
چې خو شبوی دی د منگۍ د بیخه ځینه

د کوه قاف غر ته ختل دي
څوک چې یاري د بې وفا سره کوینه

د گلاب مینځ کې گل وچیږي
چېرته عاشق سړي به لاس وروړی وینه

د گودر غاړه ورته نیسه
د نجلۍ خوی د مرغاوۍ دی رابه شینه

د لرې مرم د نړدې سوزم
افغانستانه زغم د دواړو نه لرمه

د لنډۍ ونې نه دې ځار شم
لکه سیسۍ چې په کمر ولاړه وینه

د ماز د یگر گودره وران شی
په خندا درشم په ژړا درنه راځمه

د مازد یگر گودر ته راشه
ما په منگۍ کې پراتې راوړی د ینه

د مازد یگر گودر له راشه
زه به منگۍ په لپو ورو،ورو ډکومه

د مازد یگر گودر له مه ځه
پیغلی ابو پر ځای و ینې دکو ینه

د مرگې هسې نوم بدنام دی
زه د جانان مینې پخوا وژلی یمه

د مړوند خوب چې چا لیدلی
د بالښت خوب ورته مزه نه ورکوینه

د مساپر یار زنکدن دی
مخ یې وطن ته کړئ چې سا یې وخیږینه

د مسافرو ډلې راغلې
زما د یار ډله وروستۍ ده رابه شینه

د ملکنډ د سر توتي وای
په اور ستي وای تهمتی نه وای مینه

د ملنگانو سره مل وای
گډ په ځنگل وای چې مې نه لیدای غمونه

د ملنگۍ کچکوله مات شې
چې در په در دې گرځوم تش دې راوړمه

د منکو ټو کتار یې جوړ کړو
لنډۍ بازار یې په گودر ولگاونه

د منگوټو کتار یې جوړ کړو
لنډی بازار یې په گودر ولگاونه

د ناز کتو دې اثري کړم
د کړس خندا دې لېونی د دنیا کړمه

د ناستې ځای دې راته ښایه
چې زه په هغه ځای کې وکرم گلونه

د نیمې شپې راتگ دې ورک شه
زه په توده بړستن کې نېغه کیناستمه

د نیمې شپې سندرې خوند کا
څوک به مین وي څوک به ورک له ملکه وینه

د وطن تیگې مې خوراک وای
نه وای خوراک مې په پردي وطن گلونه

د وفا تمه ترېنه مکړه
بي وفایي خو د هر ښکلي عادت وینه

د یار یوه شوه زما بله
نصیبه داسې سوال مې کله کړې ونه

د یدن دی سین کړه را لا هو کړه
زه په غاړه دگودر ولاړه یمه

دا اوسني زلمي د څه دي
د جنکو پسې د پیازو غوټه وړینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به د پاک الله رضا وي
چې د ځوانۍ عمر په غم کې تېرومه

دا به له ما نه پوره نشي
چې هر ساعت دې په جرګو پخلا کومه

دا په ځير ځير چې درته ګورم
ما درکې نښې د يارۍ ليدلې دينه

دا خو انصاف نه دی جانانه
چې دې مين کړم اوس مې نه کړې تپوسونه

دا خو د استا د يارۍ ټس دی
چې په زېړې مازديګر کډې باروومه

دا خو مې زړه دی چې لا ټينګ دی
دومره غمونه دريابونه وچوينه

دا دا مې نه درکوې تاله
راشه زما په دا دا وکړه تعويذونه

دا ستا به هېر وم که په ياد وم
زه چې قدم په قدم ږدم تا يادومه

دا ستا په سترګو کې پيريان دي
چې په تا راشي غوټې ماله راکوينه

دا ستا په مينه مې سوګند دی
ما دې خدای نه لري چې تا به هيرومه

دا ستا د دوه ورځو خندا وه
زه به ژړا درپسې ټول عمر کومه

دا سر ترلې مور دې مړه شه
چې پيشو ميو کړي دا به نېغه ناسته وينه

دا سر ترلې مور دې مړه شه
د ورځې خوب کړې د شپې تا رانه ساتينه

دا سرې منګولې نرۍ غاړه
ګودر ته لاړه برګ منګی ترخکې وړينه

دا لېونی لېونی ګرځه
په چم کې ګرځه چې ډاډه دربانديې يمه

دا ما پخپله په ځان کړي
که مې ددې نه حال بدتر شي خوښ پرې يمه

دا مخامخ دېواله پرېوزې
تانه پناه دي تورې سترګې شنه خالونه

دا نازولې لور د چا ده
چې هر سبا توروي سترګې ږدي خالونه

داده ګودر غاړه راواخله
لکه زخمی هيلۍ په ډبکې ناسته يمه

داسري منګولی نرۍ غاړه
لکه کو تره په مکيز ګودر ته ځينه

دځان عزت که چېرې غواړې
مدام کوه دنوروخلکوعزتونه

ددې ګودر غاړې ته ګوره
نری لوګی دی پېغلې زړونه وريتوينه

ددې نه لا وړوکی ښه وم
د جنکو سره به يو ځای ګرځېدمه

دريغه چې زه ديارکفن وای
چې په لحدکې ترې چاپېره وای مينه

دګودر خواکې ونې کيږده
چې شا ليلا منګۍ په سيورۍ ډکو ينه

دګودر زر اجازت راکړه
ما ته کو څه کې جنکۍ ولاړې دينه

دګودر غاړه به ښا يسته کړی
ورله روان شول د بلبلو کاروانونه

دګودر غاړه پرۍ ښايسته ده
ځا نګه دی خدای شامدام روغه لر ينه

دګودر غاړه دې اغزي کړه
په سترګو ړوند شی بخملی پڼې لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګودر غاړه ورته نیسم
زما جانان پردی لار تللی رابه شینه

دګودر غاړه ورته نیسه
دجنلی خوی دمر غاوی دی رابه شینه

دګودر غاړه ورته نیسه
لیلا دجنو میره ده مخکې دربه شینه

دګودر غاړه یې ناغه کړه
زلمو په غاړه کړه دصبر تاویزونه

دګودر هر بو ټی دارو دی
چې پری لګیږی د نجو نکو پلونه

دګودر هر بو ټی داروده
چې لګیدلی پری د پیغلو پلونه

دګودر هر بوټی تازه دی
هرمازد یګر پری جو نې سترګي لګو ینه

دګودر هر بوټی دارودی
جونی پری هره ورځلاسونه لګو ینه

دګودر هر مازد یګری ښه وي
چې جونې ټولی ماز د یګر سیل له راځینه

دمازد یګر اوبوله مه ځه
په ګودر زانګی دکوډګرو تاویزونه

دمینې دغه نښانې دي
دیوۀ زړګي نه بل ته لاره تللي وینه

دونیا د یار له سره ځار کړه
دونیا به تل وي یاران کله کله وینه

دې پورې کلي کې مین شوم
ملک یې څوک دی ننواتې ورلیږمه

ډولی یې ودروه غمازه
چې اخیري دیدن یې وکړم بیا دې ځینه

ډیوه رڼا کړه خوله مې واخله
سبا به وایې چې ما خوب لیدلی ونه

ډیوې مې بلې په مزار کړه
چیرته وختونو کې د مینې یار دې ومه

## ر ز ژ

را پسې مه غیبږه سپیه
ستا د میرمنې په سلا راغلی یمه

راځه چې دواړه ټال کې کېنو
ټال به بهانه کړو سینې مینځ به جنګوونه

راځه چې دواړه سره یو شو
زما ستا څوک دي چې مونږ پخلا کوینه

راځه چې دواړه وطن پرېږدو
وروستی خبرې به سپین ږیري جوړوینه

راشه اینه دسمال دي واخله
نه دي یاري کړم نه دې نښې ګرځومه

راشه په زړه مې ګوتې کېده
چې عاشقي مې درمعلومه شي مینه

راشه په زړه مې ګوتې کېده
یاره په تا دي که په ما دي ډېر غمونه

راشه په سترګو کې مې خوب شه
زه شوګیرو د بېلتانه وهلی یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه زما په خنګ کې کېنه
چې درته ووایم د سوي زړه حالونه

راشه زما په خنګ کې کېنه
که تمباکو غواړې خولګۍ به درکومه

راشه زما په خنګ کې کېنه
که ته شرمیږې لاس به زه درواچومه

راکړی ګل دې ببړته واخله
زه د هجران په سفر ځم مړاوی به شینه

رامعلومیږي یار مې بایلود
د بېلتانه په جوارګرو واوښتمه

رب دې په مخ ږیره ښکاره کړه
چې د غرور کنډول دې دړې وړې شینه

رب دې زما کړه خپله یاره
ما ستا په سر باندې اخیستي تُهمتونه

رنګ به مې ولې نه توریږي
ما یې د غېږې لونګین خوړلي دینه

رنګ به مې ولې نه ژیړیږي
په ما یې کړي د زعفرانو تاویزونه

رنګ به مې ولې نه ژړیږي
چې مې اشنا د ماشومانو خوی کوینه

رنګ مې په تاپسې ژیړیږي
کم عقله مور مې د زېړي دارو کوینه

ریبار مې ډېر ګړندی راغی
چې مرور اشنا به څه ویلي وینه

ریباره خدای دې سزا درکړي
لېږلی ما وې بند دې ځان ته وتاړنه

ریباره ښه سوچ پکې وکړه
جانان ښایسته دی که خدای زه لېونۍ کړمه

زړګیه صبر شه مه ژاړه
تل به اشنا په سفر نه وي رابه شینه

زړګي ته ډیرې پلمې اوکړم
دیارسرې شونډې په پلمونه هیروینه

زړګیه پام چې مئین نه شې
اوس معشوقې په زړه داغونه لګوینه

زړګیه ځان ورته تکړه کړه
اشنادسپین مخ نه نقاب پورته کوینه

زړګیه خدای خبرکه روغ شې
د کړو وریځوپه خنجرخورې ګوزارونه

زړګیه دا دې زما حال کړ
د یار کوڅه کې د دیدن غواړم خیرونه

زړګیه صبر دې په خدای شه
په هغه ګل چې نازیدې د بل چا شونه

زړګیه صبر دې په خدای شه
جانان په غټو خلکو ځان حسابوینه

زړګیه صبر شوې که نه شوې
که صبر نه یې له ګړنګ دې غور ځومه

زړګیه صبر شه مه ژاړه
څوک چې سرې شونډې ښکلوي رنځور به وینه

زړګیه صبرشه مه ژاړه
ستاپه ژړااشنادنازخنداکوینه

زړګیه مه یې رانه غواړه
د جانان کلي نه پرون را غلی بمه

زړګیه مینه پکې نشته
نن واړه ښکلي د لباس خندا کوینه

زړګیه هلته پاتې کیږې
چې په سیخونو دې ټومبي په اور دې ږدینه

زړګی زماروغ لیونی شو
اوس رانه غواړې دپردی ښنګل خوبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړګی مې تاسره بندي دی
د خدای لپاره بندي ښه ساته مینه

زړګی مې ټول پرهرپرهردی
دیاردزلفوپه تاروبه یې ګنډمه

زړګی مې نشته چیرته ورک دی
زیری به ورکړم که جانان موندلی وینه

زړه په مثال دسوداګردی
چې چېرته خوښ شي هلته واړوي بارونه

زړه خو مې یو و چې تا یوړو
کدو خو نه دی چې به ونیسي ګلونه

زړه مې په توپو نه نړیږي
ستا په وړو خبرو دړې وړې شینه

زړه مې په تورو غرو مین دی
د تورو غرو مزل کوم ژړا راځینه

زړه مې په شنو سترګو مین شو
د شنو جنډو زیارت ته ځم چې رضا شینه

زړه مې د خولې په وینا نه دی
که نصیحت ورته سبا بېګاه کومه

زړه مې د سترګو ګیله من دی
چې دیدن ته کړې زه عبس غم تېرومه

زړه مې دورانې کلا برج دی
د غم چیچنې پکې خالې جوړوینه

زړه مې دې ستا په غېږ کې وچوي
چې دچرمو کمیس دې رکګ په وینو شینه

زړه مې ماشوم دی نه پوهیږي
په نیمه لار کې رانه غواړي دیدنونه

زړه مې نري درزونه وکړ
لکه دیوال چې زلزلې وهلی وینه

زلفې یې ببیا پر مخ خورې کړې
د ماز د یګر ګودر له ځی ځان سنګارو ینه

زما پرې هسې نوم بدنام شو
د لیلا سرې شونډې پېزوان خوړلي دینه

زما په تشه خندا مسته
که خوله مې درکړه لېونی به شې مینه

زما په ټول محفل سلام دی
دا مې کلام دی چې اشنا د ټولو یمه

زما په دې وطن کې څوک دي
جانانه ستا سترګو ته شپې سبا کومه

زما په سترګو کې دې ګل شي
که زه به یې ستا په مینه بل ته غړومه

زما په سر دې منګی مات کړ
اوس به بخیلې مور ته څه بانه کومه

زما په مخ لاړې راتو کړئ
که مې د ننګ ګولۍ په شا خوړلي وینه

زما جانان د کوچو سپین دی
د پیرنګي سره نوکر دی تور به شینه

زما جانان ګل د پروتې
نرۍ یې ګوتې میرزایي راته کوینه

زما جانان ګل د خاټول دی
عالم پرې ټول دی ماله ځای نه راکوینه

زما د ځایه نصیب کم دی
چې په کتاب د سکندر ګورم فالونه

زما د حاله خبرداره
پروردګاره زما واوره فریادونه

زما د زړه په سر یې لیکه
هېر به مې نشي که مې خاورې شي هډونه

زما د زړه توتي کم عقله
ته په تنکو څانګو کېنې ماتې به شینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د زړه ناچاره رنځه
نه دې دارو شته نه دې حال ویلی شمه

زما د لرې وطن یاره
رب دې سپوږمۍ کړه چې دې وکړم دیدونه

زما د مینې کور دې وران کړو
غمازه ما درسره څه بد کړي وونه

زما د وینو رنګ دې ورکړ
د سور سالو دې هر ځای کیږي صفتونه

زما د یار داسې خندا ده
د سلو کالو مرور پخلا کوینه

زما دې ځوانه ځواني اور کړه
په تا دې اور شي د همزولو مجلسونه

زما دې څه وکړل چې لاړې
نرى نرى زړګی به ستا راپسې چوینه

زما دې زېری شي ستا دې تبه
په طبیبانو به جوړه ګرځو مینه

زما لالیه لېونیه
ته لېونی شوې زه دې هم لېونۍ کړمه

زما نه پاتې شوې وطنه
لکه مرغۍ په بوټو شپې درته کومه

زما همزولي ملایان شول
زه د جانان مینې د علمه وویستمه

زماسپېرۀ قسمت ته ګوره
خلك شاهان شول زه کچکول په غاړه یمه

زموږ د کلي نجونه مړې دي
یا وخت خراب دی چې ګودر له نه راځینه

زه به شړۍ له ځانه تاو کړم
دا ستا جوړه به له بخملو جوړومه

زه به نوکره ورله بوځمه
خو شینګو دې تنور نه لمبه کوینه

زه په عاشق سرې پوهېږم
د دروازې په ځنځیر ځان مشغولوینه

زه په عاشق سرې پوهېږم
یا یې رنګ زېړ وي یا یې شونډې وچې وینه

زه په ګلونو اموخته وم
پردی وطن دی څنې تشې ګرځومه

زه چې دا سور سالو په سر کړم
د کلي نجونې په سیالۍ راسره ځینه

زه چې سهر د خوبه پاڅم
د کلیمې سره دې سمه یادومه

زه چې سهر له خوبه پاڅم
اول سلام د کبرجن اشنا کومه

زه چې ماشوم ومه پاچا وم
اوس چې زلمی شوم د غمو ټیکه دار شومه

زه دې قربان تر هغه چا شم
چې د پښتون قام د راتلونکي غم کوینه

زه لېونو سره خوشال یم
زما یې خوښ دي دا شلېدلي ګرېوانونه

ژوند کې یې غم لیدلی نه و
چې شوه مینه ډېر یې ولیدل غمونه

ژوندون خوغټه سرمایه ده
ټول هوښیاران یې په غزت کې تیروینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## س ش ښ

سبا به لوړ چنار ته خیژم
باد به پوښتم چې یار مې څه ویلی دینه

سبا مې ستا په تهمت وژني
غولی جارو کړه چې په شړ مې وینې ځینه

سپوږمیه سر وهه راخېژه
یار مې د ګلو لو کوي ګوتې ریبینه

سپوږمۍ به ډېره شي حیرانه
چې شین خالی زلفې په شا راواړوینه

سپوږمۍ په غره راپورته کېږه
که مساپر په سیند ګډېږي غرق به شینه

سپوږمۍ راوخته رنا شوه
په سپین مړوند باندې مې ونه کړل خوبونه

سپوږمۍ سلام به درته وکړم
جانان مې مه رسوا کوه ماته راځینه

ستا به ګیله له ما نه کېږي
ماته ګیلې له بېلتانه ولاړې دینه

ستا په بڼو مې زړه زخمي شو
د زړه په وینو به دې شونډې رنګومه

ستا په تُهمت مې جامې رنګ شوې
اوس به رنګ شوې جامې چېرته زړومه

ستا په جفا مې پروا نشته
ما ژړوي د رقیبانو پیغورونه

ستا خو به تمه د دیدن شي
په ما پرتې دې تورې خاورې امبارونه

ستا خو په یو تُهمت رنګ زېړ شو
زه د تُهمت رسۍ په غاړه کې ګرځومه

ستا د ګیلاس پشان غړۍ ده
زما شړۍ ده ستا به کله خوښه شینه

ستا لوپټه زما کفن شه
چې تور لحد کې دې ونه کړم ارمانونه

ستادښایست دوران به تېرشي
جانانه مه کوه په ماباندې ظلمونه

سترګو مې زړه ته نقصان پېښ کړ
اوس به ی د باز پشان تړلې ګرځومه

سترګې په چل غړوه یاره
دونیا هوښیاره ده رسوا نشو مینه

سترګې خو تا ورکړې خدایه
کنجک بانه یې په زرګر جوړ کړي دینه

سترګې دا ستا سترګې زما دي
ما درته کله د یارۍ ویلي دینه

سترګې دې تورې په رنجو کړه
شونډو له رنګ د دنداسې ورکړه مینه

سترګې دې تورې کړه راووځه
سوداګر ګرځي غټې سترګې خوښوینه

سترګو دې بیا ناغې پیدا کړې
دناغه دارو سترګو څوک طاقت لرینه

سترګه وهل مې درنه زده کړل
اوس راته ښایه د بڼو اشارتونه

سترګې خو تا ورکړې خدایه
کنجک بانه یې په زرګر جوړ کړي دینه

سترګې دي ډکې تو مانچې دي
چې د ګودره را ختم ودی ویشتمه

سترګې به هر چا تورولی
په ټول مهالت کې همدا زه په ګوته شومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې په چل غړوه ياره
اوړکي بازان دي غټې سترګې خوښوينه

سترګې ديدن وکړي مړې شي
شونډو د غم نه وچ پتري نيولي وينه

سترګې دې تورې کړه راووځه
د تورو سترګو سوداګر راغلي دينه

سترګې دې ولې واړولې
د سترګو جنګ د ښو لاندې خوند کوينه

سترګې مې اوباسئ لايق يم
چې بې وفا ته غړېدې مين يې کړمه

سترګې نرۍ تورې مزه کا
دا ګډې وډې سترګې ډمې توروينه

سترګې هوسۍ صراحی غاړه
بيا دګودر په لاره مسته ياره له ځمه

سر په تېشه وهل اسان دي
فرهاده ګران دي د يارۍ سوي داغونه

سر لاندې غټه تيګه کېده
پردی وطن دی پکې نشته بالښتونه

سلام زما په ځان منظور کړه
د مسافرو سلام کله کله وينه

سورت ياسين راباندې وايه
په ما خولې د زنکدن راغلي دينه

سورت ياسين راباندې وايه
چې مي سختۍ د زنکدن اسانې شه

شال يې په سر اوړی په غاړه
ګودر ته لاړه عاشقان ر نځورو ينه

شاه دګودر له لوری راغله
لکه پا چا ورته پيري ولاړی دينه

شاه دګودره روانيږه
زما نرِ يړی د زړګی پا خه برجونه

شاه دګودره روانيږه
لکه د ښځ مر غۍ وږه شنه يې خالونه

شو ماز د يګر ګودر له لاړه
په اردلۍ کې سيهلۍ ورسره ځينه

شو ماز د يګر ګودر له لاړه
لکه هو سۍ په لاره اخلی قد مو نه

شو مازد يګر ځان يې سنبال کړو
خپلو همزلو سره کوز ګودر له ځينه

شونډې به يې ولې پستې نه وې
چې د پېزوان سوری پرې اوړی ژمی وينه

شونډې به يې ولې پستې نه وې
مور يې د زېړې غوا غوړي ورکړې دينه

شونډې شربت کړه ماته يې راکړه
زه د هجران په سفر ځم تړی به شمه

ښه ده چې ته له خيره راغلې
کنه ما کند کچکول تړه درپسې تلمه

ښه ده چې ستا له لورې وشوه
چې ملامته درته زه نه شوم مينه

ښه ده چې سترګې دې وړې دي
که چېرې غټې وای خوړلی به دې ومه

ښه ده چې شونډې مې اور نه اخلې
د زړه د سره مې لمبې خولې له راځينه

ښه دی چې ستا د يارۍ خلاص شوم
د شرم باز به مې په ولو ګرځونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ط ع غ ف ق

طالبه خدای که به ملا شې
په کتاب پروت یې یادوې شینکي خالونه

طبیبه لاس مې ځله ګورې
زه خو اشنا د زړه په سر ویشلی یمه

عاشق سړی له رنګه تور وي
سوی په اور وي معشوقې رټلی وینه

عاشق کم عقل دی چې ژاړي
باران په تیګو باندې څه اثر کوینه

عاشقي لال بېلتون ښامار دی
څوک چې د لال تمه کوي ښامار به یې خورینه

عاشقي لویه پاچاهي ده
چې معشوقه یې په طرف ولاړه وینه

عاشقي مه کوئ عالمه
بس کړه چې زما په ځوانۍ اور ولګېدنه

عاشقي وای جدایي نه وای
خدایه په در کې به دې څه کم شوي وونه

عالمه څنګه ترې توبه کړم
ما پرې اخیستي دي د کلي تهمتونه

عالمه یو تر بل ځاریږئ
ما د مجلس یاران لیدل چې خاورې شونه

عالمه یو له بل ځاریږئ
مرګ راپسې دی نیمه خوا به پاتې شونه

عزرایل هسې ځان بدنام کړ
زه د جانان مینې پخوا وژلی یمه

عطر مې پورې په کفن کړه
په تار د زلفو دې لیلا ورکړه ټکونه

عمر چې تېر شي اشنا هېر شي
ستا دې قسم وي چې ما هېر نکړې مینه

عمر دی ډیر شه خپله یاره
زما د زړه ستنی په تا ولاړی د ینه

غرور په حسن ناداني ده
حسن د ژمي مازدیګر دی تېر به شینه

غل خو په توره شپه کې غلا کړي
تا رانه زړه په رڼا ورځ وتښتوونه

غم دې دا ستا نه وفادار دی
ته کله کله غم دې تل راسره وینه

غم دې راځي زه پرې خوشحال یم
بې غمه خدای دې عاشق تل په غم کې وینه

غم کې پیدا په غم کې لوی شوم
په غم مین په غم به تور لحد ته ځمه

فقیره کبر پکې مکړه
چې لیلا خاورې درکوي تره پنډونه

قبر مې څنګ کې ورته جوړ کړئ
چې مرور جانان په ګور کې پخلا کړمه

قبر مې لوڅ کړه حال مې ګوره
په خُمارو سترګو مې پرېوتل ګردونه

قرضدار مې نه یې چې پټ ګرځې
زه خو دې بس د ښکلي مخ دیدن کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم په خدای باور پرې وکړه
د تش دیدن پسې دې اوښکې تویومه

قسمته خدای لپاره ویښ شه
ځوک تر قیامته پورې نه کوي خوبونه

## ک  گ  ل

کابل ته مه وایه چې وران شې
کابل کې شته دی پښتانه ببر برېتونه

کاغذ لیکلی ترېنه واخلئ
د ننۍ زمانې یار دی ټګ به وینه

کاغذه داسې وخت کې ورشه
چې دماښام په ډوډۍ ناست وې وژاړینه

کاغذه لاړ شه په هوا شه
اول ترې ځار شه بیا پرې وایه سلامونه

کاغذه لاړ شه په هوا شه
په عاشقانو باندې وایه سلامونه

کاغذه والوزه شاهین شه
له خنداشین شه بیا پرې وایه سلامونه

کټ د بلۍ سورې ته راوړه
میاشت د بادرو ده لېونۍ به شې مینه

کفن مې کلک وګنډه مورې
د ځوانۍ ټول عُمر پدې کې تېرومه

کله دې غم راباندې بار شي
کله دې مینه په درندو کاڼو تلمه

کوځه کې اودرېږه شیرینې
په ماذیګرکې به ضرورهلته درځمه

کوځه کې بیالیلاولاړه
دخوار مین دیدن ته سترګې غړوینه

کوځه کې ژاړې په سلګوشوه
دچاتصویرته سپینې اوښکې تویه وینه

کوځه کې ښکته پورته مه ځه
ځوک به خبرشي اورسوابه شومینه

کور یې په کلي کې معلوم دی
د بام په سر یې کشمالي کرلي دینه

که ته مې روغ لېونی نه کړې
بیا مې د بنګو پیالۍ مه بوله مینه

که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیکه بې ننګۍ ته دې ساتینه

که تور اوربل مې میراتیږي
په وطن جنګ دی جانان نه منع کومه

که ته ر ښتیا پر ما مین یې
د ګودر غاړه اجاره واخله مینه

که ته مې روغ لېونی نه کړې
د خومارو سترګو به اوباسم سیخونه

که ځان په سلورنګوجوړکړې
چې مرګ دوبولې په تابه ګوته ږدینه

که ځوک باچا د زمانې شي
د جانان مینه به یې کوځو کې ګرځوینه

که د ځوانۍ دوران مې تېر شي
دومره به پاتې شي چې تا پرې ځورومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د دولت ناچاري نه وای
ما به جانان په تول د سرو اخیستی ونه

که د زلمو نه پوره نشوه
ګرانه وطنه جنګی به دې ګټینه

که د یدن کړی ګودر ته راشه
زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه

که دیدن غواړې راته ګوره
زه به ډووډی په تناره وځنډومه

که دیدن کړې تلوار راوکړه
کور کې څوک نشته زه یوازې ناسته یمه

که دې خندلي راته نه وای
غریب سړی وم خپل ژوندون به مې کوونۀ

که دی زما دیدن یاد یږی
د ګودر غاړه اجاره واخله مینه

که زړه ته سل تسلي ورکړم
سترګو لیدلی جانان کله هېروینه

که ستا نه سل ځله توبه کړم
په ما مین زړه مې توبې نه قبلوینه

که سړنی اوړی خدای وکړي
ماته جانان د سور پېزوان ویلي دینه

که سلام غواړې خط به درشي
که دیدن غواړې خدای ته پورته کړه لاسونه

که لېونی یې زما خوښ یې
خلک یاري د لېونو سره کوینه

که مرور شې ځان به خوار کړې
جنګی کله مرور پخلا کوینه

که مساپر شي بیا به راشې
د تورو خاورو مساپر کله راځینه

که ملامت یم ما دې مړ کړي
چې بې ګناه یم سر مې ولې غوڅوینه

که مور او پلار دې خدای رضا کړل
د ماما ګانو به دې زنې ونیسمه

که مې نصیب د بدو نه وای
په شین چمن به مې منګی نه ماتېدنه

ګلاب د اصله شهزاده دی
رامبېل چامبېل یې نوکران نیولي دینه

ګلونه ډیر درسره راوړه
زه د اوربل دپاسه چتر جوړومه

ګوتې قلم ته په ژړا شوې
لیک به باقي وي موږ به تورې خاورې یونه

ګودر ته ځم راپسې راشه
ما په منګي کې پراټې راوړې دینه

ګودر ته دواړه خویندې راغلې
مشره ویشل کړې کشه غشې ورکوینه

ګوره ښېرې به درته وکړم
نوره مې مه اخله دخوږ زړه ازارونه

ګیلې به ډېرې ورته وکړم
که مې یو ځل د سور پالنګ ملګری شینه

ګل مې د لاسه اوبو دروړ ه
په غم شر یکه لا لیه نیسه ګودرونه

ګودر پاچا منګی وزیر دی
وزیر همیشه د خپل پاچا سلام کو ینه

ګودر په سر مې قبر جوړ کړه
چې مات منګی جنګی زما په قبر ږد ینه

ګودر په سر مې قبر جوړ کړی
چې مات منګی پیغلی زما په قبر وینه

ګودر ته ځم را پسی را شه
یوه شیبه به دی په شه زړه وو ینمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



گودر ته ځم راپسی راشه
گودر ته ځم راپسی راشه
گودر ته ځی په مخه راغلې
گودر ته دواړه خو يندي راغلی
گودر د غدونو څه کم نه دی
گودر دی عمر له اباد وې
گودر دی عمر له ودان وې
گودر شو گرم مازد يگر دی
گودر کې سری لمبی شوی پورته
گودر له ځم چې اوبه راوړم
گودر له ځم چې مانگی مات کړم
گودر له ځمه خو شحا ليږم
گودر له ځمه را پسی را شه
گودر له ځی او ښنو ته گوري
گودر له غبرگې خو يندی راغلی
گودرته ځم راپسی راشه
گودرته څی ناوخته کيږی
گودرته راغلی برابره
گودرکې هره ورځ اختر وې
گودرکې هره ورځ اختر وې
گودره بخت دی غلبه دی
گودره ټول درته لو گی شم
گور له ځم را پسی راشه
لاړم د خپل وطنه لاړم
لکه کابل دافغان حق دی
لمونځ چې قضا شي بيا ادا شي
له مانه ولې گيله من يې

زه به منگی په لپو ورو،ورو ډکومه
وخت مازد يگردی چې پری وکړو د يدنونه
گيبی گيبی پرتو گ دی لاره نه راکو ينه
يوه يې ويشتل کا بله يې غشي ټو لو ينه
پکې ښښيری شنی پاخی کټه بازونه
مازد يگري پکې وی اخترونه
په دی بهانه د حانان وکړم د يدنونه
ليلا همزولو سره قينج مکيز کو ينه
د چا د زړه په دنيا اور ولگيد نه
په سرو منگلو به يې جانان له ورکومه
سپو ږمی زړه شوه اوس تياره کې ياره ځمه
چې مي جانان کر لې لاره کې سره گلونه
ما په منگې کې پراتي را وړی د ينه
پاچاهی لارکې د خيال مه ږده قد مونه
گو له ماری د خمارو ستر گو کو ينه
زه به منگی په لپو ورو،ورو ډکومه
د خيال کاته کوی په اور يې ستی کړ مه
يا خو لگی راکړه يا منگی در ماتو مه
رنگ رنگ پکې وی د خو بانو محلسونه
منگي په سر ورله راځی جو نی سيلونه
د پيغلو جنو سيل کوی حيران دی کړمه
په سور سالو کې ليلا ستا خواله را ځينه
منگي مې دوه دي نری ملا مې ما تو ينه
بې وفا يار راباندې ډېر کبر کوونه
داسې مې حق دي دجانان زلفوسرونه
نه ادا کيږي قضا شوي ديدنونه
کم عقله ياره د پردو اختيار کې يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## م ن و هـ ي

ما په گودر د جنو ښخ کړی
گو ندې ملا له پر ما کيږدی قد مو نه

ما خو د ليرې نه صحي کړې
نور دې په تورو زلفو مه وهه لاسونه

ما د کوچي د عمره ځار کړي
د سبايي اور يې بليږي دوی ترې ځينه

ما د کونړ د سيند نه ځار کړي
زما جانان به پکې مخ مينځلی وينه

ما د گودر په غاړه خښ کړئ
چې جنکۍ مې مات بنگړي په قبر ږدينه

ما د نصيب نه تېښته وکړه
نصيب زما د لارې مل راسره ځينه

ما دگودر په غاړه ښخ کړی
چې جنکۍ مې مات بنگړی په قبر ږد ينه

ما دې ټوپۍ په سر گنډله
د جنکو په وار پيدا ورکه دې کړمه

ما زد يگر تل لری خاونده
چې ماز د يگر په گودر وشی د يدنونه

ما سره سم گودر له لاړ شه
منگي مې دوه دی نری ملا مې ما تو ينه

ما سره سمه سيالي مه کړه
ما د لنډيو سيپارې ويلي دينه

ما له مې وړی زړگی راکړه
زه وم نادانه په ياریٔ نه پوهېدمه

ما له وړوکي ريبار ځار کړې
چې يوه خبره دوه ځلې راته کوينه

ما ويل يوازې زما يار يې
د اختر ټال يې هر سړی دې زنگوينه

ما وې د غمه به دې مړ شم
قسم دی ياره بې نېټې نشته مرگونه

ما يارانه کله کوله
سرتور ولاړ وې له ښېرو دې وېرېدمه

ما يې د ورور د سترگو ځار کړې
ده به د خور سترگو ته ډېر کتلي وينه

ما يې د ورور د سترگور ځار کړې
دا د ورور سترگي يې د خور په شانته دينه

ماته دې دومره ديدن بس دی
چې په کوڅه کې ښه نيولی شې مينه

ماته رباب په لاس کې راکړئ
چې زه ده خپلې ځوانیٔ وير پکې کومه

مازديگر چېرته وې چې نه وې
خورې ورې زلفې په بام ولاړه ومه

مازديگر پيغلی ښی اغلی
منگي په ولو دگودر غاړی له ځينه

مازديگر لمونځ دې قبول مشه
ديدن دې پرېښود د ايمان کوې سوالونه

مازديگر لمونځ رانه قضا شو
نوی مين وم په ديدن نه مړيدمه

مازديگری دی سوال قبليږي
خلکو زما په حق کې پورته کړئ لاسونه

مازديگری دی ښېرې مکړه
ستا به عادت وي ما به ورک له ملکه کړينه

مبارکي راکړئ عالمه
چې پرې مين وم ترې چاپېر مې کړل لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارکي راکړئ عالمه
د تهمتونو سره يار قبوله کړمه

مبارکي راکړئ عالمه
نادانه زه نادان مې يار ورسپېدنه

مخ په قبله مې د يار کور دی
لمونځ مې بانه کړ د اشنا ديدن کومه

مخې ته راغله راته ژاړي
د لونګين نه يې ځوندې ورک شوي دينه

مرګيه دومره صبر وکړه
يو مې ځواني ده بل مې ډېر دي ارمانونه

مرګی په تنګه کوڅه راغی
ما وېل سلام هغه وېل کور دې ورانومه

مړ مې د يار په کوڅه يوسئ
چې د نجلۍ د دادا يخ شي اندامونه

مساپري په بې غمي کړه
زه پښتنه يم په نامه دې ناسته يمه

مساپري دې ډېره وکړه
راځه راځه روزي به خدای رارسوينه

مساپري سخته خواري ده
باران به اوري څوک به ځای نه ورکوينه

مسافر ته شوې خواره زه شوم
خواره دې مور شه چې سفر ته دې ليږينه

مسافر مه وژنئ عالمه
چېرته به يې خويندې د دين په تمه وينه

مسافري دې روزي مه شه
زه دې په سپينه خولې ويده پرې ايښې ومه

مسافرۍ خوړليه ياره
پيزار اوباسه چې دې تلې ښکلومه

مسافرۍ خوړلی راغلی
قربان قربان دې د زړو جامونه شمه

مسافرۍ مې زړه نری کړ
چې تش وطن رايادوم ژړا راځينه

مسافرۍ نه سترۍ مشې
اول خوله درکړم که دې جيب ولټومه

مسلماني په چاکې نشته
مرور ګرځم څوک مې نه پخولاکوينه

ملنګه دوه ګټې دې وکړې
يو دې خير ټول کړو بل دې وکړل ديدنونه

منګيه بخت ته دې حيران يم
اول دې ښکل کړي بيا دې غېږ ته خېږوينه

منګي کې موری اوبه نه شتهخ
زه د اوبو لپاره کوز ګودر له ځمه

منګي يې ټول په ډنډ غو په کړل
د شيطا نۍ منګی په لپو ډکو ينه

منګي يې ټول په ډنډ غوپه کړم
د شيطانۍ منګی په لپو ډکوينه

منګی به تخرګ ګودر له ځمه
دغه يو ځای دی چې برۍ کيږي د يدنونه

مور يې د کلي شومړې غواړي
لور يې په سپينه روپۍ خوله نه ورکوينه

مور يې د کلي شومړي غواړي
لور يې د لارې مېلمانه راستنوينه

مور يې مانبو ورته لوګی کړې
زيارت له تلې چا به يې مخ ليدلی وينه

مورې توپک کمربند راکړه
په ما مينه نجلۍ بل ته ورکوينه

مورې د مخه دې شرمېږم
ماله کوژدن چا کره وکړه زوږ دې کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې کوچیانو ته مې ورکړه
چې تور پېکی مې د هلبند شمال وهینه

مورې کوچیانو ته مې ورکړه
کنډک کنډک مستې به خورم غټه به شمه

مورې لنډۍ توپك مې راکړه
په مامینه جینۍ بل ته ورکوینه

مورې لنډۍ توره مې راکړه
په دین غزا ده زه خپل ځان شهیدومه

مین زړګي ته مې سلام دی
چې تمامي عمر په صبر تېرومه

مینه په تګ راتګ زیاتیږي
مونږ کره مه راځه چې زړه دې صبر شینه

مینه په تلو راتلو زیاتیږي
کله راځه کله به زه درځم مینه

مینه د مینې پیدا کیږي
په مینه مینه دې کتل مین دې کړمه

مینه د مینې پیدا کیږي
په مینه مینه دې کتل مین دې کړمه

مینه دروغو زړونوکاردی
زموږه زړونه غریبۍ وژلي دینه

مینه کې هر څه هر څه کیږي
په تا یوه خبره راغله هېر دې کړمه

مینې دې داسې لېونی کړم
په لاره ځم خپل او پردي نه پېژنمه

نارې وهم نارې مې نه اورې
هله به یې واورې چې زه تورې خاورې شمه

نجلۍ په سر دې منګی مات شه
چې په سرکو شونډو دې راشي سېلابونه

نجلۍ د بام په سر کږه شوه
ورسره کوږ شومهد پانډه ولوېدمه

نجلۍ کږه شوه ماته نشته
د کونډې لور ده مور غوړي ورکړې دینه

نجلۍ که ټوکی د بخمل دی
یار یې نیستمن دی په ژړا له ملکه ځینه

نجلۍ وړه د یارۍ نه ده
کم عقله مور یې ورته سترګې توروینه

نجلۍ ولاړه په لمانځه ده
پېرزو مې نشي تور پیکی په خاورو ږدینه

نرۍ نرۍ لوګی ترې خیږي
د چا په نوې یارۍ اور ولګېدنه

نړۍ مریخ ته رسیدلې
موږلاتراوسه وړوپه خروباندې بارونه

نښې دې ډېرې ما سره دي
نښې دې څه کړم چې دې سترګې نه وینمه

نصیب مې خپل دی رارسیږي
مورې زما په نصیب مه کوه جنګونه

نصیبه وسوزې ایره شې
تندیه مات شې تاکې څه لیکلي دینه

نن خو مې ډیر یادیږې یاره
خدای دې ناڅاپه چیرته راوله مینه

نن د ګودر په لاره مه ځه
لیلا ولاړه ده په زړه ویشتل کوینه

نن مې د قبر خواله راشه
مبارکي د نوي کور راکړه مینه

نه به انځر د ورځې ګل شي
نه به زما زړګی د غمه خالي شینه

نه دې د ځان نه دې د بل کړم
د دادا کور کې دې زړه کړمه ظالمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایم چې داسې ځای ته لاړ وای
چې ستا دې ډېرو ناکردو ته وګورمه

وخت د ځوانۍ مې نیمه خوا شو
یار بې وفا شو ارمانې به ګودر له ځمه

ودرېدی نشمه غورزیږم
تاو کړي غشي مې د غم خوږلي دینه

ودې ویشتم پورته دې نه کړم
خلک ویشتلی مرغۍ ژر پورته کوینه

وربل یې پوړې پوړې راغی
بخت د هغه دی چې یې پولې ورانوینه

ورشه د یار خبر دې واخله
چې بې دیدنه دې ساته لېونه شونه

ورکه د کور کلي یاري شه
د زنې سر مې دېوالو وسولاونه

وطن به ستا لپاره پرېږدم
چې ستا د حسن دوران تېر شي رابه شمه

وطن د مور او پلاره خوږ دی
جانانه درې واړه پرېږدم تا سره ځمه

وطن مې تن ،تن مې وطن دې
دتن په وینویې ساتم ترڅوچې یمه

وطن مې ستا له غمه پرېښود
خلکو ته وایم چې نیسی اخیستی یمه

ولاړه اوسه چې دې وینمه
چا دې صفت راته کوو راغلی یمه

ولې دې سر په زنګنو کړ
ما په ځوانانو کې خوښ کړې یې مینه

ولې دې مخ زما نه پټ کړ
اشنا غماز درته دروغ ویلي دینه

ولی به زه ور پسی نه مر م
اوړی په غاړه ما زد یګر ګودر له ځینه

هر کله راشې د یار غمه
که سل مې نور وي تا به پاس په تندي وږمه

هر مازد یګردی لوی اختر دی
ګودره ! ځکه دی صفت هر ځای کو مه

هغه دې هېر دي که دې یاد دي
چې د کړکۍ شمال په دواړو لګېدنه

هغه ساعت به کله راشي
چې د اشنا سره به بر ګودر له ځمه

یا خو زما په زړه تیاره ده
یا خو په ټوله دونیا پرېوتل ګردونه

یا خو زما نصیب خراب دی
یا خو به ټولې یاراني دغسې وینه

یار مې په اوم کې زه اتم کې
یو کال به پاتې شم چې دواړه یو ځای شونه

یار مې په شنو سترګو مین دی
زه به دا تورې سترګې چېرته بدلومه

یار مې هندو زه مسلمان یم
د یار لپاره درمسال جارو کومه

یاره زموږکلي ته راشه
یوځه په جیب کې ستالپاره ګرځومه

یاري په تور او په سپین نه ده
دا معشوقې خو غنمرنګې خوند کوینه

یاري په تور او په سپین نه ده
زړه چې مین شي تور او سپین نه پېژنینه

یاري خو تا پرې کړه کمبخته
که ما پرې کړې وای ژړلي به دې وونه

یاري خو تا کړه ما خو نکړه
اوس یې چې لنډه پرې کوې ژړا راځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياري د دنګې نجلۍ خوند کړي
ياري د زور خبره نه ده
ياري د شنې لښتې ګوزار دی
ياري دې ټوله د تګې وه
ياري دې نه کوم ډاريږم
ياري دې نه وه خوب ليدل و
يم خړ پښتون خړ مې ژوندون دی
يو اخيري مصره دې داوي
يو ځلې بيا په دې لار راشه
يو ځلې راغلی خوله مې ورکړه
يو خو دې غونډه منډه خوله ده
يو دې غريب پيدا کړم خدايه
يو زخم نه دی چې به جوړ شي
يو ګوټ اوبه منګی نه راکړه
يو وارې ټينګه غېږه راکړه
يوازې خدای به پرې خبر وي
يوازې ژوند مې په کار نه دی

د پلو لاندې سرې غلی تېروينه
که زړه دې نه وي بيا دې نه مجبورومه
چې چا خوړلی رنګ يې ځای ته نه راځينه
ښه شو چې زر دې په مطلب ورسېدمه
د لرې لرې ننداړې به دې کومه
څو چې مې سترګې غړولې سبا شونه
خړو جامو کې به فردوس جنت له ځمه
اخر يې مه کړې د ځوانانو مجلسونه
په پخوانو قدمو دې پرېوتل ګردونه
لار يې صحي کړه په غضب ککړه شومه
بل دې خبرې په کنده تللي دينه
بل دې مين په کبرجنې نجلۍ کړمه
هزار زخمونه مې په زړه دي مړ به شمه
د وصال تږی يم اوبه بهانه کومه
بيا دې دا دا له توره ورکړه چې راځينه
د خندا ډکه خوله به چيرته ناسته وينه
چې اشنا لاړو زه به تور لحد ته ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سلیمي د ټکنالوژۍ خدمتونو شرکت SalimiTech**

سلیمي د ټکنالوې خدمتونو شرکت د شمال زون په مرکزي دفتر د ټکنالوژۍ په برخه کې د هېواد په رسمي ژبو پښتو او دري خپلو هېوادوالو ته د ټکنالوژۍ په برخه کې خدمتونه ترسره کوي په دغه شرکت SalimiTech کې د زدکړو یا اي لیرنینګ اپلېکیشنونو، ګیم او آنلاین آفلاین پروګرامونو اپلېکیشنونه یا پوسټکالي جوړېږي، همدارنګه په دغه شرکت کې د ټکنالوژۍ په مختلفو برخو یا څانګو کې د پروګرامونو جوړولو تر څنګ د ویب پاڼو جوړول او نور ورته خدمتونه تاسو هیوادوالو ته وړاندې کیږي او مونږ د ستاسو لپاره تل په چوپړ کې یو.

همدغو لنډیو ته مونږ کمپیوټري پوسټکالي هم جوړه کړې چې هیواد وال یې زما له ویب پاڼې څخه ډانلوډولی شي.

http://www.razmohammad.com

**رازمحمد نورزی پکتیاوال**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**